رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# د قرآن او د سنتو په رڼا کې د حج، عمرې او زيارت د ډېرو مسايلو وضاحت او څېړنه

التحقيق والإيضاح لكثير من مسائل الحج والعمرة والزيارة على ضوء الكتاب والسنة

البشتوية

پښتو

ليکوال: عاليقدر:
عبد العزيز بن عبد الله بن باز

**ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٦هـ**

بن باز ، عبدالعزيز
التحقيق والإيضاح في مسائل الحج والعمرة - بشتو. /
عبدالعزيز بن باز - ط١. .- الرياض ، ١٤٤٦هـ
١٠٥ ص ؛ ..سم

**رقم الإيداع: ١٤٤٦/١٧٠٠٤**
**ردمك: ٩٧٨-٦٠٣-٨٥٣٤-٢٠-٥**

# التحقيق والإيضاح لكثير من مسائل الحج والعمرة والزيارة

## على ضوء الكتاب والسنة

## د قرآن او د سنتو په رڼا کې

# د حج، عمرې او زيارت د ډېرو مسايلو وضاحت او څېړنه

لیکوال: عالیقدر: شیخ عبد العزیز بن عبد الله بن باز

# د لیکوال سریزه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

دا يوه لنډه طريقه ده چې د حج، عمرې او زيارت د ډېرو مسايلو وضاحت او څېړنه پکې د الله تعالى د كتاب او د هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو په رڼا كې شوې ده، د خپل ځان او د هر هغه مسلمان لپاره مې را غونډ كړې دې چې غواړي يې، او د مسائلو په ليكنه كې مې كوښښ كړى چې د دلايلو په رڼا كې وي.

او د لومړي ځل لپاره په ١٣٦٣ هجري كال كې د پاچا عبد العزيز بن عبدالرحمن الفيصل - الله دې اروا ښاد او ځاى يې آرامه لري - په لګښت چاپ شو.

بيا ما د دې كتاب ځيني مسايل يو څه پراخه كړل، او د اړتيا سره سم مې تحقيقات په كې ورزيات كړل، او د بيا چاپ پرېكړه مې وكړه؛ ترڅو هغه بندګان چې الله تعالى غوښتي وي له دې كتاب څخه ګټه پورته كړي، او په (د حج، عمرې او زيارت د ډېرو مسايلو وضاحت او څېړنه د كتاب (قرآن) او د سنتو په رڼا كې) مې ونوماوه، او ګټې د بشپړتيا لپاره مې نور اړين ډېروالى او ګټور

تنبیهات پکې شامل کړل؛ او څو څو ځلې چاپ شوی دی.

له الله تعالى څخه غواړم چې د دې کتاب گټه عامه او پراخه کړي، او د دې کتاب زيار وېستل دې خاص د خپل د عزتمن ذات لپاره وگرځوي، ترڅو د هغه جنتونو په گټلو سره بريالي شو، او هغه ذات زموږ لپاره کافي او غوره وکيل دی، او هېڅ ځواک او قوت نشته پرته د لوی او ستر الله څخه.

**لیکوال**

عبد العزيز بن عبد الله بن باز

د سعودي عربستان عمومي مفتي

او د علماوو د سرتاسري شورا رئيس

او د علمي څېړنو او فتوا اداره

بسم اللّٰه الرحمن الرحيم

د اللّٰه په نامه سره (شروع كوم) چې ډېر زيات مهربان، هميشه رحم كوونكى دى.

الحمد لله رب العالمين، والعاقبة للمتقين، والصلاة والسلام على عبده ورسوله محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

اما بعد:

دا د حج په اړه لنډه ليكنه ده، د هغې د فضيلت او آداب، او هر هغه څه چې د حج ادا كوونكي لپاره اړين دي، او د حج او عمرې او زيارت د ډېرو مهمو مسايلو په مختصر وضاحت سره بيانول شامل دي، ما په دې مسايلو كې هغه څه چې د اللّٰه په كتاب او د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم په سنتو كې راغلي دي را نغاړلي ترڅو مسلمانانو لپاره نصيحت وي، د اللّٰه تعالى د دې وينا مطابق: ﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِينَ۝﴾ [الذاريات: ٥٥]. ژباړه: «او (البته) نصيحت كوه ځكه چې دا نصيحت په رېښتيا مومنانو ته ګټه رسوي» (الذاريات سورت: ٥٥ آيت)، او د اللّٰه تعالى دغه قول: ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ ...﴾ [المائدة: ٢]. ژباړه: «او كله چې اللّٰه له

هغو خلکو پوخ لوظ واخيست چې کتاب ورکړ شوی و، چې خامخا به يې نورو خلکو ته بيانوئ او پټوئ به يې نه» (المائدة سورت: ۲ آيت).

او د هغه تعالی قول: ﴿...وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى...﴾ [آل عمران:۱۸۷]. ژباړه: «او تاسو په ښېګڼه او تقوی کې يو له بل سره مرسته وکړئ» (آل عمران سورت: ۱۸۷ آيت).

او هغه څه چې په صحيح حديث کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه راغلي دي چې فرمايي: ژباړه: «دين نصيحت دی، ووېل شو: د چا لپاره؟ هغه وفرمايل: د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته»[1].

او طبراني له حذيفه رضي الله عنه څخه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «څوک چې د مسلمانانو د چارو پروا نه کوي، له دوی څخه نه دی، او چا باندې چې سهار او بېګاه راشي خو هغه الله او د هغه د رسول، او د هغه د کتاب، او د خپل امام او عامو مسلمانانو ته نصيحت کوونکی نه

(۱) مسلم له تميم الداري رضي الله عنه څخه په (۵۵) شمېره روايت کړی دی.

وي، نو دغه کس له دوی څخه نه دی»[١].

الله جل جلاله ته سوال کوم چې د دې ګټې ما او مسلمانانو ته ورسوي، او د دې کتاب زيار وېستل دې خاص د خپل د عزتمن ذات لپاره وګرځوي، ترڅو د هغه جنتونو په ګټلو سره بريالي شو، هغه ډېر ښه اورېدونکی او ځواب ورکوونکی دي، او هغه ذات زموږ لپاره کافي او غوره وکيل دی.

(١) طبراني په الأوسط کې په (٧٤٦٩) شمېره روايت کړی دی.

# فصل

## د حج او عمرې د فرضيت د ثبوت په اړه او د هغو په ادا کولو کې اقدام کول

کله چې دا معلومه شوه نو پوه شه -الله تعالى دې ما او تاسو سره د حق په پوهېدو او پيروي کولو کې مرسته وکړي- چې الله تعالى په خپلو بندګانو باندې د خپل سپيڅلي کور حج کول فرض کړی دی، او هغه يې د اسلام له رکنونو څخه يو رکن ګرځولی دی.

الله تعالى فرمايلي دي: ﴿... وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ۚ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ﴿٩٧﴾﴾ [آل عمران: ٩٧]. ژباړه: «او پر خلکو د الله دا (فرض حق) دی، د دې کور (بيت الله) حج (قصد کول په نيت د حج)، پر هغه چا چې هغه (بيت الله) ته د تګ توان لري او څوک چې کافر شو (د دې امر له منلو انکار وکړي)، نو بېشکه چې الله له ټولو عالميانو بې نيازه دی» (آل عمران سورت: ٩٧ آيت).

په صحيحينو کې له عبد الله بن عمر رضى الله عنهما څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**ژباړه:** «اسلام په پنځو شيانو ولاړ دی: ګواهي ورکول چې له الله

پرته بل معبود نشته او دا چې محمد صلى اللّٰه عليه وسلم د اللّٰه رسول او بنده دی، لمونځ کول، زکات ورکول، د رمضان روژه نيول، او د بيت اللّٰه حج کول»[(١)].

سعيد په خپل سنن کې له عمر بن الخطاب رضي اللّٰه عنه څخه روايت کړی دی چې هغه وفرمايل: ژباړه: «ما اراده وکړه چې دغو ښارونو ته سړي ولېږم چې د هر هغه چا په لټه کې شي چې مالي توان لري او حج يې نه وي کړی، پر هغوی باندې جزيه وضع کړي، هغوي مسلمانان نه دي، هغوي مسلمانان نه دي»[(٢)]. له علي رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی، چې هغه وفرمايل: ژباړه: «څوک چې د حج کولو توان ولري او حج پرېږدي، اندېښنه کېږي چې هغه د يهودي يا نصراني په توګه مړ شي»[(٣)].

هر هغه څوک چې حج يې نه وي کړی او د حج کولو توان لري بايد ژر تر ژره يې ترسره کړي؛ لکه څنګه چې له ابن عباس رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه

---

(١) بخاري په (٨) شمېره، او مسلم په (١٦) شمېره روايت کړی دی.

(٢) دا په جامع الاحاديث (٣١٨/٢٨) کې په (٣١٢٢١) شمېره سنن سعيد بن منصور ته منسوب شوی، مګر ما دا په موجوده نسخه کې ونه موند.

(٣) ترمذي د علي څخه په مرفوع ډول په (٨١٢) شمېره روايت کړی دی.

وسلم وفرمايل: ژباړه: «د حج په ادا کولو کې بيړه وکړئ - يعني: فرض حج - ځکه چې په تاسو کې هېڅوک نه پوهيږي چې څه به ورته پېښيږي»[1]. احمد روايت کړی دی.

ځکه چې د حج ادا کول د هغه چا لپاره فوري فرض دي چې د دې توان ولري؛ د الله تعالی ددې قول د ظاهري معنا پر بنياد چې فرمايي: ﴿...وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ۝٩٧﴾ [آل عمران: ٩٧].

ژباړه: «او پر خلکو د الله دا (فرض حق) دی، د دې کور (بيت الله) حج (قصد کول په نيت د حج)، پر هغه چا چې هغه (بيت الله) ته د تگ توان لري او څوک چې کافر شو (د دې امر له منلو انکار وکړي)، نو بېشکه چې الله له ټولو عالميانو بې نيازه دی» (آل عمران سورت: ٩٧ آيت).

رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپله خطبه کې وفرمايل: ژباړه: «اې خلکو! الله تعالی پر تاسو حج فرض کړی دی، نو حج وکړئ»[2]. مسلم روايت کړی دی.

(١) ابو داود په (١٧٣٢) شمېره روايت کړی دی.

(٢) مسلم په (١٣٣٧) شمېرې روايت کړی دی.

د عمرې د وجوب په اړه حديثونه راغلي دي، چې ځيني يې په لاندې ډول دي:

**د هغې له جملې څخه:** د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم هغه خبره چې جبرائيل عليه السلام ترې د اسلام په اړه پوښتنه وکړه، او هغه صلى اللّٰه عليه وسلم په ځواب کې وفرمايل: **ژباړه:** «اسلام: دا دى چې ګواهي ورکړې پر دې چې له اللّٰه پرته بل حق معبود نشته او پر دې چې محمد صلى اللّٰه عليه و سلم د اللّٰه رسول دی، لمونځ قائم کړې، زکات ورکړې، او د بيت اللّٰه حج وکړې، عمره ادا کړې، او د جنابت څخه د پاکېدو غسل وکړې، او بشپړ اودس وکړې، او د رمضان روژه ونيسې»(١). دا د عمر بن الخطاب رضي اللّٰه عنه حديث څخه ابن خزيمه او الدارقطني روايت کړي دي، او الدارقطني رحمه اللّٰه فرمايي: "دا روايت ثابت او صحيح دى".

د هغو له جملې څخه: د عائشې رضي اللّٰه عنها حديث دى چې هغې وويل: **ژباړه:** «اې د اللّٰه رسوله! ايا پر ښځو جهاد فرض دى؟ هغه وفرمايل: پر هغوى باندې داسې جهاد فرض دى چې په

---

(١) ابن خزيمة (٤/١) کې په شمېره (١) روايت کړی دی.

هغه کې جګړه نشته: حج او عمره»[١]. احمد او ابن ماجه په صحیح سند سره روایت کړي دي.

حج او عمره په ټول عمر کې یوازې یو ځل فرض دي؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مخې چې په صحیح حدیث کې فرمایلي دي: **ژباړه:** «حج یو ځل فرض دی، او څوک چې زیات حج وکړي، هغه نفل دی»[٢].

ډېر حج او عمره تر سره کول نفل دي؛ لکه څنګه چې په صحیحینو کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه ثابت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: **ژباړه:** «یوه عمره تر بلې عمرې پورې د دواړو تر منځ د ګناهونو کفاره ده، او مقبول حج ته جزا بې له جنت څخه نشته»[٣].

---

(١) بخاري په (١٥٢٠) شمېره روایت کړی دی.

(٢) نسائي په (٢٦٢٠) شمېره روایت کړی دی.

(٣) بخاري په (١٧٧٣) شمېره، او مسلم په (١٣٤٩) شمېره روایت کړي دي.

# فصل

## د ګناهونو څخه د توبې وجوب او د ظلم څخه خلاصون

هر کله چې يو مسلمان د حج يا عمرې لپاره د سفر اراده وکړي، نو د هغه لپاره مستحب دی چې خپلې کورنۍ او ملګرو ته د اللّٰه تعالی څخه د وېرې وصيت وکړي، او هغه دا چې: د هغه امرونه ترسره کول او د هغه له نواهيو څخه ډډه کول دي.

هغه بايد د هغه پوروونه وليکي چې د هغه پر خلکو باندې دي او څه چې د خلکو پر هغه باندې دي، او دې کار باندې بايد شاهدان وګرځوي، او هغه بايد د ټولو ګناهونو څخه ژر تر ژره په رښتينې توګه توبه وکړي؛ ځکه اللّٰه تعالی فرمايي: ﴿... وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝٣١﴾ [النور: ٣١].

**ژباړه:** «او اې مومنانو تاسو ټول اللّٰه ته توبه وباسئ د دې لپاره چې برى در په برخه شي» (النور سورت: ٣١ آيت).

**د توبې حقيقت:** ګناهونه پرېښودل او ځان ترې ساتل، په تېرو ګناهونو پښېمانه کېدل، او بيا يې د نه تکرارولو هوډ کول، او که چېرته هغه باندې د خلکو مظالم لکه نفس، مال او ناموس باندې ظلم وي هغه دې بېرته خپلو څښتنانو ته وسپاري، او يا د دې

مظالمو څېښتنان دې د سفر څخه مخکې هغه وبخښي او ازاد يې کړي؛ لکه څنګه چې له هغه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه روايت دي چې فرمايي: ژباړه: «چا چې په خپل ورور باندې د مال او ناموس په برخه کې ظلم کړی وي، مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې هېڅ دينار او درهم نه وي، ځان دې له هغې څخه ازاد او خلاص کړي، که چېرته نيک او صالح عمل ولري نو د هغه د ظلم په تناسب له هغه څخه اخيستل کېږي، او که چېرته نيک او صالح عمل و نلري د هغه له ګناهونو څخه اخيستل کېږي او په هغه باندې اچول کېږي»[1].

هغه بايد د خپل حج او عمرې د لګښت لپاره دې حلال او پاک مال وکاروي؛ لکه څرنګه چې له هغه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه روايت دی چې فرمايي: ژباړه: «اللّٰه پاک دی، او له پاکې پرته بل څه نه قبلوي». طبراني د ابو هريره رضي اللّٰه عنه څخه روايت کوي چې ويل يې: رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «کله چې يو سړی حج ته ووځي او خپله پښه په رکاب کې د ننه کړي او غږ وکړي: (لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ)، نو له اسمان څخه يو غږ

(١) بخاري په (٢٤٤٩) شمېره روايت کړی دی.

كوونكى ورته ووايي: حاضر يم او ستا بلنه مې منلې ده، ستا توښه حلاله ده، ستا سپرلۍ هم حلاله ده، او ستا حج قبول او منل شوى دى، او كه يو سړى په خبيث او نا پاكو پيسو سره حج ته ووځي او خپله پښه په ركاب كې د ننه كړي او غږ وكړي: (لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ)، نو له اسمان څخه يو غږ كوونكى ورته ووايي: حاضر نه يم او ستا بلنه نه منم، ستا توښه حرامه ده، ستاسو لګښتونه حرام دي، او ستاسو حج مردود او غير مقبول دى»[(١)].

حاجي بايد له هغه څيز (مال) د غوښتلو څخه ډډه وكړي چې خلكو سره دي، د هغه صلى الله عليه وسلم د وينا مطابق چې فرمايي: **ژباړه:** «او څوك چې د سوال او غوښتلو څخه ډډه وكړي، الله تعالى به د هغه حاجت رفع كړي، او څوك چې د بې نيازۍ اظهار وكړي، الله تعالى به هغه بې نيازه كړي»[(٢)].

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا: **ژباړه:** «يو سړى به تر هغو پورې له خلكو څخه سوال او غوښتنه كوي تر دې چې د قيامت په ورځې به داسې حاضر شي چې پر مخ به يې يوه ټوټه

(١) طبراني په الكبير (٢٠/٤٠) كې (٢٩٨٩) شمېره روايت كړې دى.

(٢) بخاري په (١٤٢٧)، او مسلم (١٠٣٥) شمېره روايت كړې دى.

غوښنه هم نه وي»[1].

حاجي بايد د خپل حج او عمرې موخه د الله تعالی رضا او د آخرت کور وگرځوي، او په دغو معززو ځايونو کې هغو ويناوو او عملونو سره الله تعالی ته نږدې شي چې د هغه د خوښې وړ وي، او پام دې وکړي چې د خپل حج موخه يې دنيا او د هغې متاع نه وي، او يا ځان ښودنه، شهرت او فخر کول نه وي، ځکه دا يو له بدو موخو څخه دي او د عمل د بربادۍ او د نه قبلېدلو لامل گرځي، لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ۝١٥ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝١٦﴾ [هود: ١٥ – ١٦]. **ژباړه:** «څوک چې د دنيا ژوند او د هغې ښکلا غواړي؛ نو په دنيا کې به يې د عملونو بدله بشپړه ورکړو او له هغوی به هيڅ هم نه کميږي * دا هغه کسان دي چې د دوی لپاره په اخرت کې نشته مگر اور او هغه څه برباد شول چې دوی په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه

---

(١) بخاري په (١٤٧٤) شمېره، او مسلم په (٤٠٤٠) شمېره روايت کړی دی.

عملونه چې دوی به کول» (هود سورت: ١٥ – ١٦ آیتونه).

او اللّٰه تعالی فرمایلي دي: ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهُ فِيهَا مَا نَشَاءُ لِمَنْ نُرِيدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهُ جَهَنَّمَ يَصْلَاهَا مَذْمُومًا مَدْحُورًا ﴿١٨﴾ وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَى لَهَا سَعْيَهَا وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ كَانَ سَعْيُهُمْ مَشْكُورًا ﴿١٩﴾﴾ [الإسراء: ١٨ – ١٩]. **ژباړه:** «څوک چې د کومې سملاسي ګټې غوښتنه کوي نو چاته چې څه ورکول غواړو همدلته يې ژر ورکوو بيا جهنم ورته (برخه) ګرځوو، چې رټلی ديکه شوی به ورننوځي * او هغه څوک چې اخرت غواړي او د هغه لپاره کوښښ کوي، د هغه لايق کوښښ، په داسې حال کې چې مومن (هم) وي، نو دغه خلق، د دوي سعي قدر کړی شوي (او مقبوله) ده» (الاسراء سورت: ١٨- ١٩ آیتونه).

او له هغه صلی اللّٰه علیه وسلم څخه روایت دی چې فرمايل يې: **ژباړه:** «اللّٰه تعالی فرمايي: زه له ټولو شريکانو بې پروا يم، چاچې داسې عمل وکړ چې په هغو کې يې له ما سره بل څوک شريک کړ، زه به هغه او شرک يې سره پرېږدم»(١).

(١) مسلم په (٢٩٨٥) شمېره روايت کړی دی.

همدارنګه باید په سفر کې له هغو نیکو خلکو سره ملګرتیا وکړي چې پرهیزګاره، متقیان، او په دین کې پوهه ولري، او د احمقانو او فاسقانو له ملګرتیا څخه دې ډډه وکړي.

هغه باید هغه څه زده کړي چې په حج او عمرې کې ورته روا او مشروع دي، په اړه دې ځان پوه کړي او د هر هغه څه په اړه دې پوښتنه وکړي چې ورته واضح نه وي؛ د دې لپاره چې موضوع ورته روښانه شي، نو کله چې پر خپل سپرلي، موټر، الوتکه یا بل څه کې سپور شو، د هغه لپاره دا غوره ده چې د الله تعالی نوم او د هغه حمد ووايي، بیا درې ځله "الله اکبر" ووايي، او ورسته دې ووايي:

﴿... سُبْحَانَ الَّذِیْ سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ ۝١٣ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ ۝١٤﴾ [الزخرف: ١٣ – ١٤]. **ژباړه:** «پاکي ده هغه ذات لره چې زمونږ لپاره یې دا مسخر (او تابع) کړی دی او مونږ ده لره په قابو کې راوستونکي نه یو * او بېشکه مونږ خاص خپل رب ته خامخا بېرته ورتلونکي یو» (الزخرف سورت: ١٣ – ١٤ آیتونه).

(اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى، اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ

وَعْثَاءِ السَّفَرِ، وَكَآبَةِ المَنْظَرَ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِيْ الْمَالِ وَالْأَهْلِ).

**ژباړه:** «اې اللّٰه! زه په دې سفر کې له تا څخه د نيکۍ او تقوا، او د هغو عملونو غوښتنه کوم چې ته يې خوښوې، اې اللّٰه! زموږ لپاره دا سفر آسانه کړه، او د لارې لرې والى مونږ ته نيږدې کړه، اې اللّٰه! ته د سفر ملګرى او په کورنۍ کې جانشين يې، اې اللّٰه! زه د سفر له سختيو او کړاونو، د غمجنو مناظرو د ليدو، او له بدو پېښو څخه چې زما مال او کورنۍ ته متوجه کېږي تاته پناه دروړم»[(١)]. دا چې دغه حديث د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم څخه په صحيح ډول روايت دى، مسلم د ابن عمر رضى اللّٰه عنه د حديث څخه روايت کړى دى.

او هغه دې په خپل سفر کې ډېر ذکر او استغفار کوي، اللّٰه سبحانه و تعالى ته دې دعا او عاجزي وکړي، د قرآن تلاوت کوي او په معنى کې يې غور کوي، خپل لمونځونه په جماعت سره ادا کوي او خپله ژبه له بې ځايه خبرو، هغو مسايلو کې نه ښکېل کوي چې د هغه مربوط نه وي، او له ډېرو توکو څخه ځان ساتي، او همدارنګه خپله ژبه له دروغو، غيبت، چغلي وهلو، او د خپلو ملګرو

---

(١) مسلم په (١٣٤٢) شمېره روايت کړى دى.

او نورو مسلمانو وروڼو له ملنډو څخه هم ساتي.

د سفر ملګرو سره بايد نيکي او ښېګڼه وکړي، هغوی ته له ضرر رسولو څخه بايد ډډه وکړي، هغوی ته په نيکيو امر وکړي او له بديو څخه دې په حکمت او غوره نصيحت سره د خپل توان په اندازه منع کړي.

# فصل

## کله چې حاجي ميقات ته ورسيږي دغه کارونه دې ترسره کړي

کله چې ميقات ته ورسيږي، نو مستحب دی چې غسل وکړي او عطر استعمال کړي؛ د هغه څه پر بنياد چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت دي چې د احرام په وخت کې، ګنډل شوي څيزونه يې له ځانه لرې کړل او غسل يې وکړ، او همدارنګه په صحيحينو کې دا خبره ثابته ده چې له عائشې رضی الله عنها څخه روايت دي چې ويل يې: ژباړه: «مخکې له دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم احرام وتړي، او د احرام له حلالې څخه وروسته او مخکې له دې چې د کعبې طواف وکړي ما به ورته عطر او خوشبويي استعمالول»[1]، او هغه عائشې رضی الله عنها ته امر وکړ چې کله هغې باندې حيض راغی او د عمرې لپاره يې احرام تړلی و، چې غسل دې وکړي او د حج لپاره دې احرام وتړي. کله چې اسماء بنت عميس په ذو الحليفه کې ولادت وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته امر وکړ: **ژباړه:** «چې غسل وکړي، او

(۱) مسلم په (۱۲۱۸) شمېره روايت کړی دی.

يوه ټوټه يا کپړې باندې دې ځان وتړي او احرام دې وکړي»[1]، نو دا په دې باندې دلالت کوي چې که يوه ښځه د حيض يا نفاس په حالت کې ميقات ته ورسېږي، نو بايد غسل دې وکړي او د نورو خلکو سره دې احرام وتړي، او ټول هغه څه دې وکړي چې حاجی يې کوي پرته له بيت الله له طواف څخه، لکه څرنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم عائشې او اسماء ته امر وکړ.

که څوک د احرام اراده وکړي، نو مستحب دی چې برېتونه، نوکان، د نامه لاندې او تخرګونو وېښتان دې لرې کړي، او څه چې اخيستل يې اړين وي هغه دې بايد واخلي، تر څو د احرام له اغوستلو وروسته او د احرام په حالت کې د هغې اخيستلو ته اړ نه شي، او دا ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانانو ته دا امر کړی چې هر وخت دغه شيانو ته پاملرنه وکړي، لکه څنګه چې په صحيحينو کې ثابت دي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويل يې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**ژباړه:** «فطرت پنځه څيزونه دي: سنتېدل، د نامه لاندې د وېښتانو لرې کول، د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول او د تخرګونو د وېښتانو

---

(۱) بخاري په (۱۵۳۹) شمېره، او مسلم په (۱۱۸۹) شمېره روايت کړی دی.

ويستل»[1]. او په صحيح مسلم کې له انس رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی چې وايي: ژباړه: «مونږ ته د برېتونو لنډول، د نوکانو لنډول، د تخرګونو د وېښتانو ويستل، او د نامه لاندې د وېښتانو لرې کولو لپاره وخت ټاکل شوی دی: چې بايد تر څلوېښتو شپو زيات يې پرې نه ږدو »[2].

او نسائی په دې لفظ سره روايت کړی دی: ژباړه: «رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم مونږ ته وخت ټاکلی دی»، دا حديث احمد، ابو داود او ترمذي د نسائي په لفظ سره روايت کړي دي، نو د احرام د تړلو پر مهال دې نارينه او ښځينه د خپل د سر وېښتانو څخه نه کموي.

اما د ږيرې خريل يا له هغې څخه څه اخيستل په هر وخت کې حرام دي، بلکې بايد پرې ښودل شي او اوږده شي؛ لکه څنګه چې په صحيحينو کې له ابن عمر رضي اللّٰه عنهما څخه ثابت دي چې ويل يې: رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: **ژباړه:**

---

(۱) بخاري په (۵۸۹۱) شمېره، او مسلم په (۲۵۷) شمېره روايت کړی دی.

(۲) مسلم په (۲۵۸) شمېره روايت کړی دی.

«له مشرکانو سره توپیر ولرئ، ږیرې اوږدې او برېتونه لنډ کړئ»[1].
مسلم په خپل صحیح کې له ابوهریره رضي اللّٰه عنه څخه روایت کوي چې ویل یې: رسول اللّٰه صلى اللّٰه علیه وسلم وفرمایل: ژباړه: «برېتونه لنډ کړئ، او ږیرې اوږدې کړئ، له مجوسانو سره توپیر ولرئ»[2].

په دې زمانه کې ډېر خلک له دې سنت څخه مخالفت کوي او د ږیرې پر وړاندې مبارزه او د کفارو او ښځو سره مشابهت کوي، او په تېره بیا هغه کسان چې د علم او زده کړې پورې ځان منسوبوي، إنا لله وإنا إلیه راجعون، او له اللّٰه تعالى څخه غواړو چې موږ او نورو ټولو مسلمانانو ته په سنتو باندې د عمل کولو او هغه ته د دعوت کولو لارښوونه وکړي او هغه باندې تمسک را په برخه کړي، که څه هم ډیری خلکو له دې سنت څخه مخ اړولی دی، حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

بیا به نارینه لنګ او څادر واغوندي، او مستحب ده چې

(۱) بخاري په (۲۸۹۲) شمېره، او مسلم په (۲۵۹) شمېره روایت کړی دی.
(۲) مسلم په (۲٦۰) شمېره کې روایت کړی دی.

سپين او پاک وي، او همدارنګه مستحب ده چې په دوه څپليو کې احرام وکړي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دې وينا له مخې چې فرمايي: ژباړه: «ستاسو څخه چې څوک غواړي احرام وتړي نو په يو څادر يو لنګ او څپليو کې دې احرام وتړي، او که څپلی ونه موندل شي، نو موزې دې واغوندي، او داسې يې پرې کړي چې د پښو د پونديو څخه ښکته وي»[1]. امام احمد رحمه الله روايت کړی دی.

او ښځې ته روا ده چې په هر هغه رنګ کې چې وغواړي احرام تړی شي، لکه تور، شين يا دې ته ورته نور رنګونه، په داسې حال کې چې هغه بايد په خپلو جامو کې د نارينه وو تقليد ونه کړي، او د هغه لپاره دا جواز نلري چې د احرام په وخت کې نقاب يا دستکشې واغوندي، مګر بايد خپل مخ او لاسونه د نقاب يا دستکشو پرته په بل څه پټ کړي؛ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د احرام په حالت کې ښځه د نقاب يا دستکشو اغوستلو څخه منع کړې دي، او دا چې ځينې عام خلک د ښځې د احرام رنګ يوازې شين يا تور پورې ځانګړی کوي، د دې لپاره هېڅ

(١) مسلم په (١١٧٧) شمېره روايت کړی دی.

اساس نشته.

بیا د غسل، تنظیف او د احرام اغوستلو څخه وروسته، په زړه کې د مناسکو د داخلېدو لپاره نیت کوي، که هغه د حج او یا عمرې ادا کول وي؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وینا له مخې: ژباړه: «اعمال د نیتونو پربنسټ دي، او هر چا ته هغه ورکول کېږي چې هغه یې نیت کړی وي»[1].

او هغه لپاره روا ده چې هغه څه ووایی چې هغه لپاره یې نیت کړی وي، که چېرې د هغه نیت د عمرې کول وي، نو هغه باید ووایی: (لَبَّيْكَ عُمْرَةً) او یا (اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ عُمْرَةً)، او که چېرې د هغه نیت د حج کول وي، نو هغه باید ووایی: (لَبَّيْكَ حَجًّا) او یا (اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ حَجًّا)؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا کار کړی و، او که یې د دواړو لپاره اراده درلوده، نو باید دواړو ته دې نیت وکړي او باید ووایي: (اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ عُمْرَةً وَحَجًّا)، او دا غوره ده چې دا د نیت کولو تلفظ دې وروسته له هغه وشي چې هغه په خپله سپارلۍ کې کښیني، که سپارلۍ څاروی، موټر او یا بل څه

(۱) بخاري په (۱) شمېره، او مسلم (۱۹۰۷) په شمېره روایت کړی دی.

وي؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته له هغه نیت کړی وو چې پر خپله سپرلۍ سپور شو او له میقات څخه یې حرکت وکړ، او دا د علماوو د تر ټولو صحیح قول دی.

او د نیت تلفظ کول روا نه دي مګر یواځې د احرام په حالت کې؛ ځکه چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی.

اما د لمونځ، طواف او نورو شیانو لپاره نه ښایي چې د نیت تلفظ وشي، دا چې ووایي: نیت مې کړی چې فلانی فلانی لمونځ، او یا فلانی طواف ادا کړم، ځکه پر دې شیانو تلفظ کول جوړ شوي بدعتونه دي، په ښکاره او جهري توګه ویل یې ډېر قباحت لري او سخته ګناه ده، که د نیت تلفظ کول روا وی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا خبره بیان کړی وی، او امت ته به یې په خپل فعل او قول واضح کړی وی، او سلف صالح به په دې عمل کې سبقت کړی وی.

نو کله چې دا خبره له رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه نه ده نقل شوی، نو معلومه خبره ده چې دا بدعت دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: **ژباړه:** «او په دین کې تر ټولو بد کار د نویو طریقو

راوېستل دي، ځکه چې (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده»[١].
مسلم په خپل صحيح کې راوړی دی. او هغه عليه الصلاة والسلام فرمايلي: ژباړه: «چا چې زموږ په دين کې نوي شيان را پيدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي»[٢]. د دې حديث پر صحت اتفاق شوی دی. او د مسلم په لفظ کې دي: ژباړه: «که څوک کوم کار وکړي او زمونږ د دين امر وربانديې نه وي نو هغه مردود دي»[٣].

---

(١) مسلم په (٨٦٧) شمېره روايت کړی دی.
(٢) بخاري په (٢٦٩٧) شمېره، او مسلم په (١٧١٨) شمېره روايت کړی دی.
(٣) بخاري په معلق ډول (٦٩/٣) کې، او مسلم په (١٧١٨) شمېره روايت کړی دی.

## فصل

## مکاني ميقاتونه او د هغې تحديدول

**ميقاتونه پنځه دي:**

**لومړی: ذوالحليفه**، چې د مديني د خلکو ميقات دی، او نن سبا ورته ابيار علي وايي.

**دويم: الجحفه**، چې د شام د خلکو ميقات دی او د رابغ په څنگ کې يو خراب کلی دی، چې اوس مهال خلک له رابغ څخه احرام تړي، نو که څوک له رابغ څخه احرام وتړي هغه له ميقات څخه احرام تړلی دی؛ ځکه چې رابغ له هغې څخه لږ مخکې دی.

**دريم: قرن المنازل**، چې د نجد د خلکو ميقات دی، اوس مهال ورته السيل ويل کيږي.

**څلورم: يلملم**، او دا د يمن د خلکو ميقات دی.

**پنځم: ذات عرق**، او دا د عراق د خلکو ميقات دی.

دا ميقاتونه د پيغمبر صلی اللّٰه عليه وسلم لخوا د هغو کسانو لپاره ټاکل شوي دي چې موږ يې يادونه وکړه، او همدارنگه د هغو کسانو لپاره چې د دې ميقاتونو څخه تېريږي او د حج يا عمرې کولو لپاره نيت ولري.

او هر هغه څوک چې له دې لارې تېرېږي، نو واجب ده له هغه ځای څخه احرام وتړي، او که څوک د حج يا عمرې لپاره مکې ته د تګ اراده ولري، که هغه د ځمکې له لارې تېرېږي يا د هوا له لارې، نو د احرام له تړلو پرته له هغې څخه تېرېدل حرام دي، د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د عمومي قول پر اساس چې ميقاتونه يې ټاکلي وو: **ژباړه:** «دغه ميقاتونه د هغو خلکو لپاره دي چې د حج او عمرې اراده ولري او پر دې ميقاتونو باندې تېرېږي او د دې مناطقو اوسېدونکي نه وي»[١].

د هغه چا لپاره چې مکې ته د هوا له لارې روان وي او د حج يا عمرې نيت ولري، روا ده چې له پرواز څخه مخکې ځان چمتو کړي، لکه غسل کول او ورته نور خيزونه، او کله چې ميقات ته نږدې شي، خپل لنګ او څادر دې واغوندي، بيا دې د عمرې لپاره تلبيه ووايي او نيت دې وکړي که وخت کافي وي، او که چېرته کافي وخت نه وي، نو يوازې د حج لپاره دې تلبيه ووايي او نيت دې وکړي، او که مخکې له دې چې الوتکې ته پورته شي يا مخکې

(١) بخاري د ابن عباس رضي الله عنهما څخه په (١٥٢٤) شمېره، او مسلم په (١١٨١) شمېره روايت کړی دی.

له دې چې ميقات ته نږدې شي، خپل لنګ او څادر واغوندي، نو هېڅ ستونزه نشته، خو نيت او تلبيه دې نه کوي تر هغه چې ميقات ته نږدې او يا برابر شوی نه وي؛ ځکه چې پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم يوازې له ميقات څخه احرام تړلی و، او پر امت واجب دي چې په دې برخه کې د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم د لارښوونو پيروي وکړي لکه څنګه چې د دين نورو چارو کې د هغه پيروي کوي؛ د اللّٰه سبحانه وتعالى د دې قول پر اساس: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ...﴾ [الأحزاب: ٢١]. ژباړه: «بېشکه ستاسې لپاره د رسول اللّٰه په تابعدارۍ کې ښايسته پيروي شته» (الأحزاب سورت: ٢١ آيت). او د پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم قول په حجة الوداع کې: ژباړه: «خپل مناسک او اعمال زما څخه واخلئ»[١].

او هغه کسان چې مکې ته ځي او د حج يا عمرې اراده نه لري؛ لکه سوداګر، لرګي وهونکی، پوست رسوونکی او داسې نور، پر هغه باندې احرام تړل لازمي نه دي مګر دا چې هغه وغواړي؛ د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د حديث پر بنياد چې مخکې د مواقيتو په هکله يې وفرمايل: ژباړه: «دغه ميقاتونه د هغو خلکو

---

(١) مسلم په (١٢٩٧) شمېره روايت کړی دی.

لپاره دي چې د حج او عمرې اراده ولري او پر دې ميقاتونو باندې تېرېږي او د دې مناطقو اوسېدونکي نه وي»[١]. دا په دې مانا ده څوک چې له ميقات څخه تېرېږي او د حج يا عمرې نيت نه لري، احرام تړل پرې لازم نه دي.

دا د اللّٰه تعالی د رحمت له امله ده چې خپلو بندګانو ته يې کارونه اسانه کړي دي، نو د دې رحمت لپاره د هغه لره ستاينه او شکر دی، د دې موضوع تاييد دا دی چې کله پيغمبر صلی اللّٰه عليه وسلم د فتحې په کال مکې مکرمې ته راغی، هغه احرام ونه تړلو، بلکې په سر يې د اوسپني خولۍ وه؛ ځکه چې هغه وخت کې يې د حج يا عمرې کولو اراده نه درلوده، بلکې غوښتل يې چې مکه فتحه کړي او په هغې کې شرک له منځه يوسي.

د هغو کسانو لپاره چې د استوګنې ځای يې ميقاتونو ته نيږدې وي؛ لکه جده، ام السلم، بحرة، الشرائع، او بدر، مستوره او داسې نورو ښارونو د اوسيدونکو لپاره، د هغه لپاره ضرور نه دی چې د پورته ذکر شويو پنځو ميقاتونو څخه يو ته لاړ شي، بلکې د هغه استوګن ځای د هغه ميقات دی، نو هغه د حج يا عمرې لپاره له

(١) ددی روايت تخريج مخکې تېر شوی دی.

هماغه ځايه څخه احرام تړلی شي، او که چېرته هغه د ميقات څخه بهر بل استوګن ځای ولري، نو هغه اختيار لري چې د ميقات څخه احرام تړي، يا د خپل استوګن ځای څخه چې مکې ته د ميقات په پرتله نږدې دی؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د عمومي قول پر اساس چې د ابن عباس رضی الله عنه په حديث کې د ميقاتونو په اړه يادونه شوې ده، چې فرمايي: **ژباړه:** «که څوک له دې ميقاتونو څخه نيږدې وي، د هغه د نيت او احرام تړلو ځای د هغه له کورنۍ څخه دی، او همدارنګه د مکې خلک هم له مکې څخه احرام تړي»[(١)]. بخاري او مسلم روايت کړی دی.

خو څوک چې په حرم شريف کې وي او غواړي چې عمره وکړي، هغه بايد حِل ته لاړ شي او له هغه ځايه د عمرې احرام وتړي؛ ځکه کله چې عايشه رضی الله عنها له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د عمرې کولو غوښتنه وکړه، هغه صلی الله عليه وسلم د هغې ورور عبدالرحمن ته امر وکړ چې هغه حِل ته بوځي ترڅو له هغه ځايه احرام وتړي، دغه کار دا په ګوته کوي چې عمره کوونکي د حرم څخه د عمرې لپاره احرام نه تړي، بلکې د حِل

(١) دا حديث د مخکني حديث يوه برخه ده.

څخه احرام تړي.

دا حديث د ابن عباس رضی اللّٰه عنهما ذکر شوی حديث مخصوصوي، او دې باندې دلالت کوي چې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم مراد د دې قول څخه: ژباړه: «تردې چې د مکې خلک له مکې څخه احرام تړي -تلبيه وايي-»[1]. دا د حج لپاره احرام دی، نه د عمرې لپاره، که چيرې د عمرې لپاره احرام له حرم شريف څخه روا وای، نو عايشه رضی اللّٰه عنها ته به د دې اجازه ورکړل شوې وای او هغه به يې حِل ته د تګ لپاره نه مکلف کوله، دا يوه څرګنده خبره ده، او دا د جمهورو علماوو رحمهم اللّٰه نظر دی، او دا د مومن لپاره ډېر مناسب دی، ځکه چې پدې کې د دواړو حديثونو باندې عمل کول دي. او اللّٰه تعالی توفيق ورکوونکی دی.

خو هغه څه چې ځينې خلک يې کوي، چې د حج وروسته له تنعيم يا جعرانة او نورو ځايونو څخه ګڼ شمېر عمرې کوي، حال دا چې د حج څخه مخکې يې عمره هم ادا کړې وي، نو د دې کار لپاره هېڅ شرعي دليل نشته؛ بلکې دلايل په دې باندې دلالت کوي

(۱) ددی روايت تخريج مخکې تېر شوی دی.

چې د دې کار پرېښودل غوره دي؛ ځکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو رضي الله عنهم د حج څخه وروسته عمره نه ده کړې، يوازې عائشې رضي الله عنها له تنعيم څخه عمره ادا کړې ده، ځکه چې هغې د حيض له امله مکې ته د داخلېدو پر مهال له خلکو سره عمره نه وه کړې، نو هغې له نبي صلى الله عليه وسلم څخه وغوښتل چې د هغې عمره (چې له ميقات څخه يې احرام تړلى و) په بدل کې بله عمره ادا کړي، نبي صلى الله عليه وسلم ورته اجازه ورکړه، چې په پايله کې هغې دوه عمرې ترلاسه کړې: يوه هغه عمره چې د حج سره يې تړلې وه، او دويمه يې په جلا توګه ادا کړه، نو څوک چې د عائشې رضي الله عنها په حالت کې وي (يعنى د شرعي عذر لرونکى)، نو هغه کولاى شي د حج وروسته عمره ادا کړي؛ د ټولو دليلونو په عملي کولو، او د مسلمانانو لپاره د اسانتيا په لحاظ سره.

په دې کې شک نشته چې د حج له بشپړولو وروسته د حاجيانو بله عمره کول، پرته له هغه عمرې څخه چې د مکې ته ورسره داخل شوي دي، د ټولو لپاره ستونزې جوړوي، او د ګڼې ګوڼې او پېښو لامل کېږي، سربېره پردې چې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لارښوونو او سنتو څخه سرغړونه ده، او الله

تعالى توفيق ورکوونکی دی.

## فصل
## د هغه چا حکم چې د حج له مياشتو څخه پرته ميقات ته رسېدلی وي

پوه شه چې هغه څوک چې ميقات ته رسېږي دوه حالتونه لري:

**لومړی حالت:** دا چې د حج له مياشتو پرته په نورو مياشتو کې راشي، لکه رمضان او شعبان، د دې لپاره سنت دا دی چې د عمرې لپاره احرام وتړي، په زړه کې دې نيت وکړي او په ژبه دې دې ووايي،(لَبَّيْكَ عُمْرَةً) يا (اللَّهُمَّ لَبَيْكَ عُمْرَةً) ووايي، بيا د رسول الله صلى الله عليه وسلم تلبيه دې ووايي، چې دا ده: **ژباړه:** «زه حاضر يم اې لويه خښتنه! زه حاضر يم تا لره هېڅ شريک نشته، يقينا چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي، او پاچاهي تا لره ده، تا لره هېڅ شريک نشته»[1]. دغه تلبيه او د الله تعالى ذکر دې زيات کوي، تر

(١) بخاري د ابن عمر رضي الله عنهما د حديث له مخې په (١٥٤٩) شمېره، او مسلم په (١١٨٤) شمېره روايت کړی دی.

هغه چې بيت اللّٰه الحرام ته ورسېږي، کله چې بيت اللّٰه الحرام ته ورسېږي، تلبيه ويل دې قطع کړي، اووه ځله دې د بيت اللّٰه طواف وکړي، د مقام شاته دې دوه رکعته لمونځ وکړي، بيا دې صفا ته لاړ شي او د صفا او مروه ترمنځ اووه ځله دې طواف (سعی) وکړي، بيا دې د سر وېښتان وښروي يا دې لنډ کړي، نو په دې سره يې عمره پای ته ورسېده او هر هغه څه چې د احرام په وخت کې پرې حرام وو، ورته حلال شول.

**دويم:** دا چې د حج په مياشتو کې ميقات ته ورسېږي، چې هغه: شوال، ذو القعده، او ذو الحجې اولنۍ لس ورځې دي.

په داسې حالت کې، د حج د دريو ډولونو ترمنځ يو ډول بايد انتخاب کړي: يوازې حج، يوازې عمره، يا د دواړو يو ځای کول؛ ځکه کله چې نبي صلی اللّٰه عليه وسلم په حجة الوداع کې ذي القعدة کې ميقات ته ورسېده، خپلو اصحابو ته يې د دريو ډولونو حج ترمنځ د انتخاب وړانديز وکړ، خو سنت دا دی چې که چا سره هدي (قرباني) نه وي، نو هغه دې عمرې لپاره نيت او احرام وتړي، او هغه څه دې ترسره کړي چې موږ د غير حج په مياشتو کې ميقات ته د رسېدونکو لپاره ذکر کړي دي؛ ځکه چې نبي صلی اللّٰه عليه وسلم خپلو اصحابو ته د مکې په نږدې کېدو سره امر وکړ چې

خپل احرام او نيت دې د عمرې لپاره وګرځوي، او د دې تاکيد يې هغوی باندې په مکې کې وکړ، نو هغوی د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم د امر د متابعت له مخې طواف، سعي، او قصر وکړ، مګر هغه چا چې له ځانه سره قرباني راوړی وه، نبي صلى اللّٰه عليه وسلم ورته حکم وکړ چې تر نحر (قربانۍ) ورځې پورې په احرام کې پاتې شي. او د قربانۍ څاروي راوړونکي لپاره سنت دا دی چې د حج او عمرې لپاره احرام وتړي؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم دا کار کړی و، او د قربانۍ څاروی يې راوړی و، نو هغه خپلو هغو صحابو ته چې د قربانۍ څاروی يې راوړي و او د عمرې احرام يې تړلی و، امر وکړ چې د خپلې عمرې سره دې د حج لپاره هم تلبيه ووايي، او ځان دې له احرام څخه نه حلالوي تر هغه چې د قربانۍ په ورځ د دواړو څخه حلال شي، او که هغه څوک چې قرباني راوړی وي او يوازې د حج لپاره يې احرام تړلی وي، هغه دې هم په احرام کې پاتې شي تر هغه چې د قربانۍ په ورځ ځان له احرام څخه حلال کړي، لکه هغه څوک چې د قران حج ترسره کوي.

له دې څخه دا معلومه شوه چا چې يوازې د حج، يا د حج او عمرې لپاره احرام تړلی وي او د قربانۍ څاروی ورسره نه وي، نو

بايد په خپل احرام کې پاتې نشي، بلکې د هغه لپاره سنت دا دي چې خپل احرام د عمرې لپاره وتړي، طواف، سعی دې وکړي، او وېښته دې لنډې کړي، او ځان دې له احرام څخه حلال کړي، لکه څنګه چې پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپلو هغو صحابو ته امر وکړ چې د قربانۍ څاروي يې نه وو راوړي، پرته له هغو کسانو چې د حج له لاسه ورکولو وېره ولري، له دې امله چې ورروستنی يې مخکې کړې دی، نو په احرام کې د هغه پاتې کېدو کې کومه ستونزه نشته. والله اعلم.

که يو محرم د ناروغۍ، دښمن، يا بل څه څخه وېره ولري، چې د عمرې يا حج مناسک به سرته و نه رسوي، نو د هغه لپاره مستحب ده چې د احرام تړلو په وخت کې ووايي: (فَإِنْ حَبَسَنِيْ حَابِسٌ فَمَحَلِّيْ حَيْثُ حَبَسْتَنِيْ)، ژباړه: «زما له احرام څخه د وتلو ځای به هغه وي چې زه پکې بند پاتې شم»، د ضباعه بنت الزبير رضي الله عنها د حديث له مخې، چې وې ويل: اې د الله رسوله! زه غواړم حج وکړم، خو ناروغه يم، نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: ژباړه: «حج وکړه، او شرط وتړه، چې زما د احرام نه وتلو

ځای به هغه وي چې زه پکې بنده پاتې شم»[1]. متفق عليه.

د دې شرط ګټه دا ده چې: كه احرام كوونكي ته داسې څه پېښ شي چې د هغه د مراسمو د ترسره كولو مانع ګرځي، لكه ناروغي يا د دښمن لخوا منع كېدل، نو هغه ته جواز لري چې د احرام څخه ځان حلال كړي او هغه باندې هېڅ شی نشته.

(۱) بخاري په (۵۰۸۹) شمېره، او مسلم په (۱۲۰۷) شمېره روايت كړی دی.

# فصل

## د کوچني ماشوم د حج کولو حکم، او آيا د اسلام حج لپاره بسنه کوي؟

د کوچني ماشوم او نجلي حج صحيح دی؛ په صحيح مسلم کې د ابن عباس رضي اللّٰه عنهما د روايت له مخې، چې يوې ښځې نبي صلی اللّٰه عليه وسلم ته يو ماشوم پورته کړ او وې ويل: **ژباړه:** اې د اللّٰه رسوله! آيا د دې لپاره حج شته؟ ويې فرمايل: «هو، او ستا لپاره هم د هغه اجر شته»(١).

په صحيح بخاري کې، د السائب بن يزيد رضی اللّٰه عنه په روايت سره، چې هغه وفرمايل: **ژباړه:** «زما حج د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم سره وشو، او زه اوه کلن وم»(٢). خو دا حج د اسلام د حج د بديل په توګه د دوی لپاره کافي نه دی.

او همدارنګه د غلام، او وينزې حج صحيح دی، مګر دا د اسلام د حج په توګه د دوی لپاره کافي نه دی؛ ځکه د ابن عباس رضی اللّٰه عنهما له حديث څخه ثابته شوې ده، چې رسول اللّٰه صلی

(١) مسلم په (١٣٣٦) شمېره روايت کړی دی.

(٢) بخاري په (١٨٥٨) شمېره روايت کړی دی.

الله عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: «هر ماشوم چې حج وکړي او بيا بلوغ ته ورسيږي، هغه بايد بيا حج وکړي، او هر غلام چې حج وکړي او بيا آزاد شي، هغه بايد بيا حج وکړي»(١). ابن ابي شيبه او بيهقي په حسن سند سره روايت کړی دی.

که ماشوم د تمييز مرحلې ته نه وي رسېدلی، د هغه ولي د احرام نيت کوي، او له هغه څخه ګنډلې جامې وباسي، او د هغه په ځای تلبيه وايي، او په دې سره ماشوم محرم کېږي، او ټول هغه څه ترې منع کېږي چې لوی محرم باندې منع کېږي، او همدارنګه که ماشومه نجلۍ چې د تمييز مرحلې ته نه وي رسېدلې د هغې لپاره هم ولي نيت کوي او تلبيه وايي، او په دې سره ماشومه نجلۍ محرمه کېږي، او ټول هغه څه ترې منع کېږي چې لويو محرمو ښځو باندې منع کېږي، او د طواف په وخت دواړه بايد پاکې جامې ولري او بدن يې هم پاک وي؛ ځکه چې طواف د لمونځ په څېر دی او طهارت د لمانځه د صحت شرط دی.

که ماشوم هلک او انجلۍ د تمييز په مرحله کې وي، د خپل ولي په اجازه بايد احرام وتړي، او د لويانو په شان غسل، خوشبو،

(١) ابن ابو شيبة په خپل مصنف کې په (٤٤٤/٤) روايت کړی دی.

او نور اعمال دې ترسره کړي، او د هغوی ولي د دوی د کارونو او چارو مسوليت لري، که هغه پلار، مور، او کوم بل څوک وي، او هر هغه اعمال چې هغوي يې نه شي ترسره کولی، د هغوي ولي دې ترسره کړي، لکه د جمراتو ويشتل او داسې نور، خو نور مناسک لکه عرفات کې درېدل، منی او مزدلفه کې شپه تېرول، طواف، او سعي د دوی په ذمه کې دي، که چېرې دوی طواف او سعی نشو کولی، نو بايد دوی ته سپاره طواف او سعی ورکړ شي، او د هغه چا لپاره غوره ده چې دوی ته طواف ورکوي، چې د دوی او د ځان لپاره دې مشترک نه کوي، بلکې د دوی لپاره دې د طواف او سعی جلا نيت وکړي او د ځان لپاره دې جلا طواف او سعی وکړي؛ د عبادت د احتياط لپاره، او پر حديث شريف د عمل کولو لپاره: **ژباړه:** «هغه څه پرېږده چې تا شکمنوي، او هغه وکړه چې تا نه شکمنوي»(۱). که چېرې اميندواره ښځه د ځان او محمول (په شا يا غېږ کې ماشوم) لپاره د طواف او سعی نيت وکړي، نو دا د هغې لپاره د ډېر صحيح قول له مخې کافي ده؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ښځې ته چې د ماشوم د حج په اړه يې پوښتنه

(۱) ترمذي په خپل جامع کې په (۲۵۱۸) شمېره روايت کړی دی.

کړې وه، هغې ته يې امر و نه کړ چې د هغه لپاره دې مستقل طواف وکړي، نو که دا واجب وی، نو هغه صلی اللّٰه علیه وسلم به بیان کړی وای. او اللّٰه تعالی توفیق ورکوونکی دی.

ممیز هلک او انجلۍ ته باید امر وشي چې د طواف پیلولو دمخه ځانونه له ناپاکۍ او نجاست څخه پاک کړي، لکه د بالغ احرام کوونکي په څېر، د ماشوم هلک او انجلۍ ولي باندې واجب نه دي چې هغوی ته احرام واغوندي، بلکې دا يو نفلي عمل دی، که وېې کړي هغه لره اجر دی اوکه وې نه کړي نو پر هغه هېڅ گناه نشته. اللّٰه ښه پوهېږي.

## فصل

## احرام کې ممنوع شيان او هغه څه چې محرم لپاره مباح دي

د محرم لپاره -که هغه نارينه وي يا ښځينه-، د احرام د تړلو وروسته جواز نه لري چې د خپل وېښتانو يا نوکانو څخه واخلي او يا خوشبو وکاروي.

د نارينه وو لپاره په ځانګړې ډول دا جواز نلري چې هېڅ ډول ګنډل شوي شيان واغوندي، يعنې: د هغه د اندام په اندازه پرې شوی او ګنډل شوی وي، لکه کميس، يا د هغې يوه برخه، لکه لاندني جامې، پرتوګ، موزې او جرابې، مګر که هغه لنګ و نه مومي نو هغه لپاره د پرتوګ اغوستلو اجازه شته، په ورته ډول، که هغه څپلۍ ونه مومي، هغه ته اجازه ده چې موزې په پښو کړي، پرته له دې چې پرې يې کړي، د ابن عباس رضی اللّٰه عنه د حديث له مخې، چې په صحيحنو کې ثابت شوی دی، چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: «څوک چې څپلۍ ونه مومي، خفين (موزې) دې واغوندي، او څوک چې لنګ ونه مومي، پرتوګ دې واغوندي»[1].

---

(۱) بخاري په (۱۸٤۱) شمېره، او مسلم په (۱۱۷۹) شمېره روايت کړی دی.

او هغه څه چې د ابن عمر رضی اللّٰه عنهما په حديث کې ذکر شوي دي، د موزو د پرې کولو امر په اړه چې که څوک د څپليو د نشتوالي له امله د موزو پښو کولو ته اړتيا ولري، هغه منسوخ دی؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم په مدينه کې دا امر کړی و، کله چې له هغه څخه د احرام کوونکي د جامو په اړه پوښتنه وشوه، بيا کله چې هغه په عرفات کې خلکو ته وعظ وکړ، نو هغه د موزو په پښو کولو اجازه ورکړه کله چې څپلۍ و نه موندل شي، او امر يې ونه کړ چې بايد پرې شي، او په دغه خطبه کې هغو کسانو ګډون کړی و چې په مدينه کې يې ځواب نه و اورېدلي، د اړتيا له وخت څخه د وضاحت ځنډول جواز نه لري، لکه څنګه چې د علم حديث او علم فقه په اصولو کې پېژندل شوې خبره ده، په دې توګه، د پرې کولو د حکم لغوه کېدل ثابت شو، که پرې کول واجب وی، نو رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم به دا روښانه کړی وی. او اللّٰه تعالی ښه پوهېږي. د حاجي لپاره جواز لري چې هغه موزې واغوندي چې ساق يې د ښنګرو څخه ښکته وي؛ ځکه چې دا د څپليو له جنس څخه دي. او هغه جواز لري چې ازار (لنګ) په تار يا ورته شي سره وتړي، د دليل د نشتوالي له امله چې منعې باندې دلالت وکړي.

د محرم لپاره روا ده چې غسل وکړي، سر ومينځي، او که اړتيا وي نو په نرمۍ او اسانۍ سره يې وږروي، که د ږرولو له امله يې له سر څخه کوم شی ولوېږي، نو هغه باندې ګناه او حرج نشته.

د احرام په حالت کې د ښځې لپاره د مخ پټولو لپاره ګنډلي شوي شيان اغوستل منع دي، لکه برقع يا نقاب، يا د لاسونو لپاره، لکه دستکشې؛ لکه څنګه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: «او محرمه ښځه بايد نقاب يا دستکشې ونه اغوندي»[1]. بخاري روايت کړی دی. دستکشې: هغه څه دي چې د لاسونو په اندازه د وړۍ، مالوچ يا نورو موادو په ذريعه ګنډل کېږي يا اوبدل کېږي. ښځې ته جواز لري چې له دې پرته بل څه ګنډل شوي شيان واغوندي، لکه کميس، پرتوګ، موزې، جرابې او داسې نور.

دا هم ښځې ته جواز لري چې که اړتيا وي نو خپل حجاب (خمار) پر خپل مخ راښکته کړي، پرته له دې چې غوټه شوی وي، او که حجاب (خمار) د هغې مخ سره ولګېږي، نو په هغې باندې هېڅ ګناه نشته؛ د عايشه رضى الله عنها د حديث له مخې، چې

(۱) بخاري د ابن عمر څخه په (۱۸۳۸) شمېره روايت کړی دی.

وايي: ژباړه: «سپاره خلک به زموږ له خوا تېرېدل او موږ د احرام په حالت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وو، نو کله چې دوی موږ ته نږدې کېدل، نو موږ به خپل حجاب د خپل سر څخه په خپل مخ ښکته کولو، او کله چې دوی له موږ څخه تېرېدل، موږ به خپل مخونه ښکاره کول»[1]. دا حديث ابو داود او ابن ماجه روايت کړی دی، او دارقطني د ام سلمه څخه دې ته ورته حديث روايت کړی دی.

همدارنګه، په دې کې هيڅ ګناه نشته چې ښځه خپل لاسونه په خپل جامو يا بل څه پټ کړي، او که هغه د پرديو نارينه وو په شتون کې وي نو بايد خپل مخ او لاسونه پټ کړي؛ ځکه چې مخ او لاسونه عورت دي؛ لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿...وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ...﴾ [النور: ٣١]. ژباړه: «او خپل سينګار دې نه ښکاره کوي، مګر خپلو مېړونو ته» (النور سورت: ٣١ آيت). او په دې شک نشته چې مخ او لاسونه د سينګار ځايونه دي.

او په هغو کې مخ د سينګار تر ټولو مهم او لوی ځای دی، الله تعالى فرمايلي دي: ﴿... وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ

(١) ابو داود په (١٨٣٣) شمېره روايت کړی دی.

وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ ...﴾ [الأحزاب: ٥٣]. ژباړه: «او چې کله هم د پيغمبر له بيبيانو څه غواړئ، نو د پردې تر شاه يې ترې وغواړئ. په دې توګه ستاسې زړونه او هم د هغوی زړونه ښه پاک ساتل کېږي» (الأحزاب سورت: ٥٣ آيت).

او هغه څه چې ډېری ښځې عادت لري، چې د پردې (حجاب) لاندې د سر پټۍ اچوي، ترڅو حجاب له مخ څخه پورته وساتي، تر هغه ځايه چې موږ پوهېږو په شريعت کې د دې لپاره هيڅ اساس نشته، که دا جواز درلودی، رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم به يې خپل امت ته بيان کړی وای او د هغه لپاره روا نه وه چې په دې اړه چوپ پاتې شي.

د احرام په حالت کې د نارينه يا ښځې لپاره روا ده چې هغه جامې چې دوی يې په کې احرام تړلی د ناپاکۍ او خيرنتيا او داسې نورو شيانو له وجې ومينځي، او هغوی لپاره جواز لري چې خپل احرام په بل احرام سره بدل کړي.

او نارينه وو ته جواز نه لري چې داسې جامې واغوندي چې د زعفران يا ورس بوټي پرې لګېدلي وي؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د ابن عمر رضی اللّٰه عنهما په حديث کې له دې کار څخه منع کړې ده.

محرم بايد له جماع (شهواني عمل)، ګناهونو او شخړو څخه ډډه وکړي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ...﴾ [البقرة: ١٩٧]. **ژباړه:** «د حج (وخت) معلومې مياشتې دي، نو چا چې په دې مياشتو کې پر خپل ځان حج فرض کړ (د حج نيت يې وکړ)، نو نه دې هغه جماع (شهواني عمل) کوي، نه ګناهونه او نه جګړې د حج (په ورځو) کې» (البقرة سورت: ١٩٧ آيت).

په مستند ډول روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: **ژباړه:** «څوک چې د الله لپاره حج وکړي، جماع (شهواني عمل) او ګناهونه ونه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زېږولی وي»[1]. **الرفث:** په جماع، او پر فاحشو خبرو او کارونو باندې اطلاقيږي، الفسوق: ګناهونو ته ويل کېږي، او الجدال: په باطل باندې شخړه کول، او يا په هغه څيز باندې شخړه کول چې

(١) بخاري د ابو هريرة رضي الله عنه څخه په (١٥٢١) شمېره، او مسلم په (١٣٥٠) شمېره روايت کړی دی.

هېڅ گټه نلري، اما د حق څرگندولو او د دروغو ردولو لپاره په غوره لاره کې د استدلال لپاره، شخړه کولو کې هېڅ ستونزه نشته، بلکې پرې امر شوی دی؛ لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي: ﴿ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ...﴾ [النحل: ١٢٥]. ژباړه: «د خپل رب لارې ته په حکمت او ښکلې نصيحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طريقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي» (النحل سورت: ١٢٥ آيت).

د نارينه محرم لپاره دا منع ده چې خپل سر په چسپېدلي شي پټ کړي؛ لکه خولۍ، څادر، پگړۍ، يا دې ته ورته نور شيان، او همدارنگه مخ دې هم نه پټوي؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وينا له مخې، د هغه چا په اړه چې د عرفې په ورځ له خپلې سپرلۍ څخه وغورځېد او مړ شو: ژباړه: «هغه ته په اوبو او سدر (د بېرې پاڼو) باندې غسل ورکړئ او په خپلو دوو جامو کې يې کفن کړئ، او سر او مخ يې مه پټوئ، ځکه چې هغه به د قيامت په ورځ د تلبيه ويلو په حال کې راپورته کېږي»(١). متفق عليه، او دا لفظ د مسلم

(١) بخاري د ابن عباس رضي الله عنه څخه په (١٥٢١) شمېره، او مسلم (١٣٥٠)

دی.

د موټر چت، چترۍ، يا نورو شيانو سره لکه څنګه چې خيمې يا ونې سره سيوري کول (د حج په حالت کې) جائز دي؛ ځکه چې په صحيح حديث کې ثابت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د عقبې جمرې د ويشتلو پر مهال د يو ځپرکي په ذريعه وربانديې سيوری شوی و، همدارنګه، په نمره کې ورته خيمه ودرول شوې وه، او تر لمر پرېوتلو پورې هغه د خيمې لاندې و.

د احرام په حالت کې د نارينه وو او ښځو لپاره د وحشي ښکار وژل، په ښکار کې مرسته کول، له خپل ځای څخه يې شړل او وېرول، د واده عقد کول، جماع کول، ښځو ته د واده وړانديز کول او يا د هغوی سره د شهوت په قصد نږدېوالی حرام دی؛ د عثمان رضی الله عنه د حديث له مخې، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «محرم نه واده کوي، او نه بل چا ته واده ترسره کوي، او نه د واده وړانديز (کوژدنه) کوي»[1]. مسلم روايت کړی.

شمېره روايت کړی دی.

(۱) مسلم د عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه په (۱٤۰۹) شمېره روايت کړی دی.

که چېرې محرم په هېره او يا ناپوهۍ سره ګنډل شوي جامې واغوندي، او يا خپل سر پټ کړي، او يا خوشبويي استعمال کړي، نو په هغه باندې فديه نشته، او کله چې يې په ياد راشي يا پوه شي نو هغه دې لرې کړي، او همدارنګه که څوک خپل سر وخريي، او يا په هېره او يا ناپوهۍ باندې له خپلو وېښتانو څخه واخلي او يا خپل نوکان واخلي، نو د صحيح نظر له مخې محرم باندې هېڅ څه نشته.

په مسلمان باندې د حرم ښکار وژل حرام دی – که محرم وي که غير محرم، نر وي که ښځه –، يا د هغه په وژلو کې مرسته کول، د آلې په ذريعه، اشاره کول، او يا ورته شيانو له لارې.

او ښکار يې له ځايه نه شړل کېږي او نه وېرول کېږي، د حرم ونې او شنه بوټي پرې کول، او د حرم له ځمکې څخه پراته شيان پورته کول (پرته له هغه چا چې د ورک شوي شيز د څېښتن په لټه کې وي)، حرام دي؛ د نبي صلی الله عليه وسلم د دې حديث پر اساس: ژباړه: «دا ښار (مکه) تر قيامته پورې د الله په حرمت سره مقدس دی، اغزی يې بايد پرې نه شي، ښکار يې و نه شړل شي، او پراته شيان يې پورته نه کړی شي، پرته له هغه چا چې د ورک شوي شيز د څېښتن په لټه کې وي، او تازه بوټي يې و نه رېبل (دَرَو)

شي»[1]. (متفق عليه)

**المنشد:** څوک چې ورک شوي شيان اعلانوي، الخلا: تازه واښه او بوټي، او منى او مزدلفه د حرم څخه دي، او عرفات د حِل څخه ده.

(۱) بخاري د ابن عباس رضي الله عنهما د حديث څخه په (۱۸۳٤) شمېره، او مسلم په (۱۳۵۳) شمېره روايت کړى دى.

# فصل

## هغه څه چې مکې ته د ننوتلو پر مهال يې حاجي ترسره کوي او د هغه څه بيان چې مسجد حرام ته له ننوتلو وروسته يې ترسره کوي، لکه طواف او څرنګوالی يې

کله چې محرم مکې ته ورسېږي، مستحب دی چې د مکې دننه کېدو دمخه غسل وکړي؛ ځکه چې نبي صلی اللّٰه عليه وسلم همداسې کړي دي، کله چې مسجد الحرام ته ورسېږي، سنت دی چې لومړی ښي پښه دننه کړي او ووايي: (بِسْمِ اللّٰهِ، وَالصَّلاةُ وَالسَّلامُ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ، أَعُوْذُ بِاللّٰهِ العَظِيْم وَبِوَجْهِهِ الكَرِيْم وَسُلْطَانِهِ القَدِيْم مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْم، اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ)، او دا ذکر د نورو جوماتونو دننه کېدو پر مهال هم ويل کېږي، او مسجد الحرام د داخلېدو لپاره د نبي صلی اللّٰه عليه وسلم څخه ځانګړی ذکر ثابت نه دی، تر کومه چې زه پوهېږم.

کله چې يو حاجی يا معتمر کعبې ته ورسېږي، د تلبيې ويل دې قطع کړي مخکې له دې چې طواف پيل کړي، که هغه متمتع يا معتمر وي، بيا به حجر اسود ته لاړ شي او په خپل ښي لاس سره دې حجر الاسود لمس او ښکل کړي، که هغه ونه شي کولی چې

ښکل يې کړي، نو په خپل لاس سره دې لمس کړي، او خپل لاس دې ښکل کړي، او غوره دا ده چې رش دې نه جوړوي چې خلک په تکليف نه شي، کله چې حجر الاسود لمسوي يا ورته اشاره کوي، هغه بايد ووايي: (بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ)، او يا (اللّٰهُ أَكْبَرُ). که هغه ونه شي کولی چې په خپل لاس يا امسا سره او يا ورته شي سره يې لمس کړي، او بيا دې ښکل کړي، که دا هم ممکن نه وي، حجر الاسود ته دې مخامخ ودرېږي او خپل لاس سره دې ورته اشاره وکړي، خو نه دې يې ښکلوي، د طواف د صحت لپاره شرط دا ده چې طواف کوونکی د کوچني او لوي حدث (بې اودسۍ) څخه پاک وي، ځکه طواف د لمونځ په شان دی خو په هغې کې خبرې کول رخصت دی، طواف دې په داسې حال کې کوي چې کعبه يې په کيڼ اړخ کې وي، که د خپل طواف په دې باندې پيل کړي، نو دا به غوره وي: (اللّٰهُمَّ إيمانًا بِكَ، وتصديقًا بِكتابِكَ، ووفاءً بعَهدِكَ، واتِّباعًا لسنَّةِ نبيِّكَ محمَّدٍ صلى الله عليه وسلم)، ځکه چې دا د نبي کريم صلى اللّٰه عليه وسلم څخه روايت دی، هغه اووه گردشونه ترسره کوي، او په لومړيو دريو گردشونو کې په چټکۍ سره قدم وهل په لنډو گامونو سره قدم ووهل شي، دا هغه طواف

دی چې هغه يې په لومړي ځل مکې ته د رسيدو پرمهال ترسره کوي، که هغه عمره، تمتع، او يا يوازې د حج لپاره احرام کړی وي، يا يې حج او عمرې سره يوځای کړي وي، او په پاتې څلورو گردشونو کې د معمول په خير قدم وهل دي، هر گردش دې د حجر اسود څخه پيلوي او په هغې سره دې پای ته رسوي.

**الرمل:** په لنډو گامونو سره چټک حرکت کولو ته وايي، او د طواف په جريان کې د هغه لپاره اضطباع کول مستحب دي، پرته له نورو حالتونو څخه، او د **اضطباع طريقه:** سړی بايد د خپل څادر منځنۍ برخه خپل ښي تخرگ لاندې تېر کړي، او څنډې دی يې په کيڼه اوږه باندې واچوي. که په گردشونو کې شک وکړي، نو يقين سره دې يقيني کړي، چې هغه لږ تر لږه ده، لکه: که شک کوي چې درې گردشونه يې کړي دي که څلور؟ گردشونه دې درې وگڼي، همداسې دې په سعي کې هم وکړي.

د طواف له بشپړولو وروسته دې خپل څادر واغوندي او په خپلو اوږو دې واچوي، او د څادر دوه سرونه دې پر سينه واچوي مخکې له دې چې د طواف دوه رکعته لمونځ ترسره کړي.

هغه څه چې ښځې ترې بايد منعه شي او پرې خبرې شي هغه د زينت او عطرونو سره طواف کول دي، او د هغوی بې حجابي،

حال دا چې هغوی عورت دي، نو هغوی دې باید ځانونه ستر او په حجاب کې کړي او د طواف او نورو حالتونو کې چې د ښځو له نارینه وو سره اختلاط کېږي زینت دې پرېږدي؛ ځکه چې دا عورت او فتنه ده، او د ښځې مخ د هغې تر ټولو ښکاره زینت دی، نو د هغې لپاره دا روا نه ده چې پرته له محرم څخه یې نورو ته ښکاره کړي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿...وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ...﴾ [النور: ٣١]. ژباړه: «او خپل سینګار دې نه ښکاره کوي، مګر خپلو مېړونو ته» (النور: ٣١ آیت). الآیة، ښځو ته جواز نه لري چې د حجر الاسود د ښکلولو په وخت کې د نارینه وو په وړاندې مخ ښکاره کړي، که چېرته ښځو لپاره د حجر الاسود ښکلول او یا لمس کول امکان ونلري، نو د نارینه وو سره دې ټېله نه وهي، بلکې د هغوی تر شا دې طواف کوي، دا د هغو لپاره غوره او ډېر اجر لري، رمل او اضطباع مشروع نه دي پرته له دې طواف څخه، او نه په سعي کې، او همدارنګه ښځو لپاره هم مشروع نه ده؛ ځکه نبي کریم صلی الله علیه وسلم یواځې په لومړي طواف کې رمل کړی و، کله چې طواف قدوم لپاره مکې ته راغی، او د طواف په وخت کې باید د بې اودسۍ او نجاستونو څخه پاک وي، او د الله تعالی په وړاندې متواضع او عاجز وي.

مستحب دي چې د طواف په جریان کې د الله تعالی ډېر ذکر او دعا وکړي، او که د طواف په جریان کې د قرآن کریم یوه برخه تلاوت کړي، نو دا ښه کار دی، د دې طواف یا کوم بل طواف یا د سعی په جریان کې کوم ځانګړي ذکر یا دعا شتون نه لري.

اما ځینو خلکو چې د هر طواف یا سعي لپاره بېل بېل اذکار او دعاګانې ځانګړي کړي دي، د دې لپاره هېڅ اساس نشته، بلکې هر ډول ذکر او دعا چې اسانه وي، کفایت کوي، نو کله چې رکن یماني ته ورسېږي، په ښي لاس دې لمس کړي او ووايي: (بِسْمِ اللَّهِ وَاللَّهُ أَكْبَرُ)، او نه دې ښکلوي، که لمس کول یې ستونزمن وي، هغه دې پرېږدي او طواف ته دې دوام ورکړي، او اشاره دې ورته نه کوي، او تکبیر دې هم نه وايي، ځکه دا د نبي صلی الله علیه وسلم څخه ثابت نه دي، تر هغه ځایه چې موږ پوهېږو، او د رکن یماني او حجر الاسود تر منځ دا دعا ویل مستحب دی: ﴿... رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝٢٠١﴾ [البقرة: ٢٠١]. ژباړه: «اې زمونږ ربه مونږ ته په دنیا کې نعمت راکړه او په اخرت کې هم نعمت راکړه او د اور له عذابه مو وساته» (البقرة سورت: ۲۰۱ آیت). هر کله چې هغه حجر اسود سره نږدې شو، هغه

دې لمس او ښکل کړي او ودې وايي، (اللّٰهُ أَكْبَرُ)، نو كه چېرې د لمس کولو او ښکلولو امکان ونلري، نو هرکله چې حجر اسود ته نږدې شو، هغې ته دې اشاره وکړي او تکبير دې ووايي.

د زمزم او مقام تر شا طواف کول هېڅ پروا نه لري، په ځانګړي توګه کله چې ګڼه ګوڼه وي، ټول حرم د طواف کولو لپاره ځای دی، که هغه د جومات په دهليزونو کې طواف وکړي، نو دا به د هغه لپاره کافي وي، خو که ممکنه وي کعبې شريفې ته نږدې طواف کول غوره دي.

کله چې طواف پای ته ورسوي، نو که امکان ولري، نو بايد د مقام شاته دې دوه رکعته لمونځ وکړي، که چېرې د ګڼې ګوڼې يا دې ته ورته نورو شيانو له امله دا ممکنه نه وي، نو د جومات (حرم) په هر ځای کې دې ادا کړي، او مستحب دی چې په دې دوه رکعتونو کې پس له فاتحې سورت څخه: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ ۝١﴾ [الكافرون: ١]. «اې نبي! ته (دوی ته) ووايه: اې کافرانو!» (الکافرون سورت: ١ آيت) په لومړي رکعت کې ووايي، او ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝١﴾ [الإخلاص: ١]. «اې نبي! ته (دوی ته) ووايه: شان دا دی چې الله يو دی» (الإخلاص سورت: ١ آيت). دې په دويم رکعت

کې ووايي، او دا غوره ده، او که پرته له هغو څخه د قرآن بل ځای ولولي، هېڅ ستونزه نشته، بيا دې د حجر اسود لوري ته لاړ شي او که امکان ولري په ښي لاس دې لمس کړي؛ رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم پسې د اقتدا کولو له مخې.

بيا دې د صفا له دروازې څخه صفا ته لاړ شي او صفا غونډۍ باندې دې وخېژي او يا تر څنګ دې ودرېږي، که امکان ولري نو د صفا غونډۍ ته ختل غوره دی، او کله چې لومړی شوط پيلوي، د اللّٰه تعالی دغه قول دې تلاوت کړي: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللّٰه ...﴾ [البقرة: ١٥٨]. **ژباړه:** «يقينًا صفا او مروه د اللّٰه له نښو څخه دي» (البقرة سورت: ١٥٨ آيت).

او مستحب ده چې پر صفا باندې خپل مخ قبلې ته واړوي، او د اللّٰه حمد او لوی والی دې ادا کړي، او ودې وايي: (لا إِلهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، لَا إِلهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، لَا إِله إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ). **ژباړه:** «له اللّٰه پرته بل حق معبود نشته او هغه يوازې دی هغه لره هيڅ شريک نشته، هغه لره پاچاهي او تولې ثناوې دي او هغه پر هغه

څه باندې قادر دی، نشته دی لايق د عبادت مگر يوازې هغه دی، الله خپله وعده پوره کړه او د خپل بنده مدد يې وکړ او تنهايي سره يې احزابو او ډلو ته ماتې ورکړه». بيا دې هغه دعا وکړي چې ورته اسانه وي، او لاسونه دې پورته کړي، او دا ذکر او دعا دې (درې ځله) تکرار کړي، بيا دې مروې ته ښکته شي نو کله چې شنې نښې ته ورسېږي، نارينه دې خپل تگ گړندی کړي تر هغه چې دويمې نښې ته ورسېږي، بيا دې خپل تگ عادي کړي، او د ښځو لپاره د دوو نښو تر منځ گړندی تگ جواز نه لري؛ ځکه چې ښځه محرم ده، او د هغې لپاره دا مشروع ده چې په ټوله سعي کې قدم ووهي، بيا دې لاړ شي او مروې باندې دې پورته شي او يا دې ترڅنگ ودرېږي، او که امکان ولري، نو د مروې پر سر ختل غوره دی، او په مروه کې دې هغه څه ووايي او وکړي چې په صفا کې يې ويلي او کړي و، پرته له دې چې دا آيت ولولي، کوم چې د الله تعالى دغه قول دی: ﴿إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ ...﴾ [البقرة: ١٥٨].

**ژباړه:** «يقينًا صفا او مروه د الله له نښو څخه دي» (البقرة سورت: ١٥٨ آيت). دا يوازې هغه وخت مشروع ده کله چې په لومړي گردش کې صفا ته پورته کېږي؛ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيروی له وجې، بيا به راښکته شي او په هغه ځای کې چې عادي

تګ کوي عادي تګ دې وکړي، او د سرعت ځای کې دې سرعت ډېر کړي تر څو چې صفا ته ورسېږي، دا کار دې اووه ځله تکرار کړي، د هغه تګ يو ګردش دی، او بېرته راستنېدل يې بل ګردش دی؛ ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه څه وکړل چې مخکې ذکر شول او وې فرمايل: **ژباړه:** «خپل مناسک او اعمال زما څخه واخلئ»[1]. مستحب ده چې هغه بايد د سعی په جريان کې څومره چې امکان ولري دعاګانې او ذکرونه دې وکړي، او د لويو او کوچنيو ناپاکيو او نجاست څخه دې پاک وي،او که له اوداسه پرته يې سعی وکړه نو هم صحيح کېږي، په همدې ډول که چېرې يوه ښځه د طواف څخه وروسته حايضه شي او يا ماشوم وزېږوي، بيا سعی وکړي؛ هم صحيح کېږي، ځکه چې پاکوالی او طهارت د سعي لپاره شرط نه دی، بلکې لکه څنګه چې پورته يادونه وشوه، مستحب دی.

کله چې ئې سعي بشپړه کړه، نو خپل سر خريي يا يې لنډوي، او د سړي لپاره د سر خريل غوره دي، که يې لنډ کړي او خريل يې د حج لپاره پرېږدي، نو ښه خبره ده، او که مکې ته يې راتګ د حج

---

(۱) دد روايت تخريج مخکې تير شوی دی.

وخت ته نږدې وي، نو سر لنډول غوره ده چې د وېښتانو پاتې برخه په حج کې و خريي؛ ځکه چې نبې صلى اللّٰه عليه وسلم او صحابه يې چې کله د ذو الحجې په څلورمه مکې ته راغلل، هغو کسانو ته يې چې له ځانه سره يې قرباني نه وه راوړې، امر وکړ چې احرام څخه ووځي او وېښتان لنډ کړي، او خريلو باندې ئې امر و نه کړ، د لنډولو لپاره اړينه ده چې ټول وېښتان يو شان لنډ شي، د يوې برخې لنډول بسنه نه کوي، همدارنګه د وېښتانو يوه برخه خريل هم بسنه نه کوي، او ښځې ته يوازې لنډول جواز لري، هغه دې د خپلو وېښتانو د څنډو څخه د ګوتې د سر په اندازه لنډ کړي. **الأنملة:** د ګوتې سر ته وايي، او ښځه دې له دې څخه زيات نه اخلي.

که محرم هغه څه وکړي چې ذکر شول، نو د هغه عمره بشپړه شوه الحمد لله او هر هغه څه چې د احرام په حالت کې پرې حرام شوي وو د هغه لپاره حلالېږي، پرته لدې چې هغه د قربانۍ څاروی له حِل څخه راوړی وي، په دې حالت کې هغه په خپل احرام کې پاتې کېږي، تر هغه وخته پورې چې د حج او عمرې دواړو څخه خلاص شي.

چا چې د افراد حج لپاره احرام تړلی وي، او يا د حج او

عمرې لپاره يې يوځای احرام تړلی وي (قران حج)، نو د هغه لپاره سنت ده چې خپل احرام له عمرې څخه وروسته فسخ کړي او د متمتع حاجي په شان کړنې دې ترسره کړي مګر هغه کس چې د ځان سره يې هدي (قرباني) راوړي وي؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم خپلو اصحابو ته په دې باندې امر وکړ، او ويې فرمايل: ژباړه: «که ما له ځانه سره د قربانۍ څاروی نه وی راوړی، نو ما به تاسو سره يو ځای له احرام څخه ځان حلال کړی وی»[1].

که چېرې يوې ښځې باندې د عمرې د احرام تړلو وروسته حيض يا نفاس راشي، نو هغه بايد د بيت اللّٰه طواف او د صفا او مروه ترمنځ دې سعې ونه کړي، تر هغه چې پاکه شي، کله چې پاکه شي، طواف، سعې دې وکړي، او وېښتان دې لنډ کړي، او په دې سره د هغې عمره بشپړه کېږي. او که چيرې هغه د ترويه (د ذو الحجې اتمې) ورځې دمخه پاکه نشي، نو بايد د حج لپاره له هغه ځای څخه احرام وتړي چې هلته اوسيږي، او له خلکو سره دې منى ته لاړه شي، په دې توګه هغه د حج او عمرې ترمنځ قارن ګڼل

(۱) بخاري د جابر رضي الله عنه څخه په (۱۵٦۸) شمېره روايت کړی دی.

کبړي، او هغه دې هغه څه کوي چې حاجی يې کوي، لکه په عرفه او مشعر کې درېدل، د جمراتو ويشتل، مزدلفه او منی کې شپه تېرول، د قربانۍ څاروی حلالول، او خپل ويښتان لنډول. نو کله چې پاکه شي، بايد د بيت الله يو طواف او د صفا او مروا تر منځ دې يوه سعې وکړي، او دا به د هغې د حج او عمرې لپاره کافي وي، د عايشې رضی الله عنها د حديث له مخې، چې د عمرې د احرام تړلو وروسته هغې ته حيض راغی، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل: **ژباړه:** «هغه څه وکړه چې حاجی يې کوي، مګر تر هغه چې پاکه شوې نه يې د بيت الله طواف مه کوه»[1]. متفق عليه.

که چېرې يوه حيض لرونکې يا د زېږون وروسته ښځه د قربانۍ په ورځ جمرات وويشتل او خپل وېښتان يې لنډ کړل، نو هر هغه څه چې د احرام په وخت کې پرې حرام وو، لکه عطر او داسې نور، هغې ته حلالېږي، پرته له مېړه څخه، تر هغه چې حج بشپړ کړي لکه د نورو پاکو ښځو په څېر، نو کله چې د پاکوالي وروسته طواف او سعی يې وکړه، نو د هغې مېړه هم ورته حلالېږي.

(۱) بخاري په (۳۰۵) شمېره، او مسلم په (۱۲۱۱) شمېره روايت کړی دی.

# فصل

# د ذوالحجې د اتمې ورځې د حج لپاره د احرام تړلو او منى ته د تلو حکم

او کله چې د ترويې ورځ ورسېږي، چې د ذوالحجې اتمه ده، نو هغه کسان چې په مکه کې دي او هغه کسان چې غواړي د حج مراسم ترسره کړي، د خپلو کورونو څخه دې د حج لپاره احرام وتړي؛ ځکه چې د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم صحابه کرام په ابطح کې پاتې شول او د ترويې په ورځ يې له هغه ځايه د حج لپاره احرامونه وتړل، او رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم هغوى ته امر نه دى کړى چې بيت اللّٰه ته لاړ شي او هلته يا د ناوې (ميزاب) څخه دې احرام وتړي، او همدارنګه هغوى ته يې امر نه دى کړى چې د منى څخه د وتلو پر مهال دې طواف الوداع وکړي، که دا عمل مشروع وى، نو دوى ته به يې په اړه پوهاوى ورکړى وى، تول خير او ښېګڼې د پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم او د هغه د اصحابو رضي اللّٰه عنهم په پيروى کې دي.

د حج د احرام تړلو پر مهال بايد غسل وکړي، ځان پاک کړي او خوشبويي ولګوي، لکه څنګه چې له ميقات څخه د احرام تړلو پر مهال يې کوي. د حج د احرام تړلو وروسته، د ترويې په ورځ د

غرمې مخکې يا وروسته د منی په لور روانېدل غوره دي، او دوی بايد تلبيه ډېره تکرار کړي، تر هغه چې جمره عقبه وولي، او د ماسپښين، مازديگر، ماښام، ماخستن او سهار لمونځونه بايد په منی کې وکړي، سنت دا دی چې هر لمونځ په خپل مناسب وخت کې او د قصر په شکل پرته له جمع کولو سره ادا شي، پرته له ماښام او سهار لمونځونو څخه، چې نه قصر کېږي.

د مکې د خلکو او نورو ترمنځ هېڅ توپير نشته؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مکې او نورو خلکو ته په منی، عرفات او مزدلفه کې د قصر لمونځونه ورکړل، او د مکې خلکو ته يې د بشپړولو امر نه و کړی، که دا واجب وای، نو هغه به يې هغوی ته روښانه کړی وای.

بيا د عرفې په ورځ د لمر ختو وروسته، حاجيان له منی څخه د عرفات لوري ته حرکت کوي، سنت دا ده چې دوی له زوال څخه مخکې نَمره ته ښکته شي، که امکان ولري؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دا عمل ترسره کړی دی.

کله چې لمر زوال وکړي، امام يا د هغه مرستيال ته سپارښتنه کېږي چې خلکو ته د وضعيت سره سم خطبه ورکړي، په هغې کې هغه څه تشريح کړي چې د حاجی لپاره په دې ورځ او راتلونکې

ورځو کې مشروع دي، او هغوی ته له الله تعالی څخه د وېرې، او د هغه وحدانيت، او په ټولو اعمالو کې د هغه لپاره اخلاص لرلو امر وکړي، او هغوی ته دې د هغو شيانو پر وړاندې خبرداری ورکړي چې الله تعالی حرام گرځولي دي، او هغوی ته دې د الله د کتاب او د هغه د پيغمبر پر سنتو باندې د عمل کولو لارښوونه وکړي، او د کتاب او سنت له مخې دې فيصلې وکړي او کتاب او سنت دې په ټولو چارو کې فيصله کوونکی وگرځوي؛ د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د متابعت له مخې، او له هغه وروسته دې هغوی په اول وخت کې په يو اذان او دوه اقامتونو د ماسپښين او مازديگر لمونځونه، د قصر او جمع په شکل ادا کړي؛ څکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم همدا ډول ترسره کړي دي. مسلم د جابر رضي الله عنه د حديث څخه روايت کړی دی.

بيا خلک عرفات کې دربېږي، او ټول عرفات د دربېدو ځای دی پرته له عُرَنَة لمنې څخه، که امکان ولري، نو قبله او جبل الرحمة ته مخامخ کېدل غوره ده، که چېرې دواړو ته مخامخ کېدل ممکن نه وي، نو قبلې ته دې مخامخ شي حتی که هغه غر ته مخامخ نه وي، په دې ځای کې حاجی لپاره مستحب دي چې د الله تعالی په ذکر، دعا، او تضرع کې هڅه وکړي، او د دعا په

وخت کې خپل لاسونه پورته کړي، او که تلبيه ووايي يا د قرآن کريم څخه يو څه تلاوت وکړي، دا به ښه وي، او سنت دي چې په مکرر ډول ووايي: (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيْتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ). **ژباړه:** «له اللّٰه پرته بل معبود نشته، او اللّٰه تر ټولو لوی دی، له اللّٰه پرته بل معبود نشته، چې يوازې دی او هيڅ شريک نه لري، پاچاهي د هغه ده او ستاينه هغه لره ده، او هغه په هرڅه قادر دی»، ځکه چې له رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه روايت شوی چې فرمايلي يې دي: **ژباړه:** «غوره دعا د عرفې د ورځې دعا ده، او غوره هغه څه چې ما او زما څخه مخکې پيغمبرانو ويلي دي: (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيْتُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ)(١)، دي. او د هغه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه روايت دی چې فرمايي: **ژباړه:** «څلور کلمې اللّٰه تعالی ته ډېرې خوښې دي: سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ

---

(١) ترمذي په (٣٥٨٥) شمېره روايت کړی دی.

أَكْبَرُ»[١].

دغه ذکر بايد په عاجزۍ او د زړه په حضور سره ډېر تکرار شي، دا هم اړينه ده چې په شريعت کې ذکر شوي ذکرونه او دعاگانې په هر وخت کې ډېرې تکرار شي، په ځانگړې توگه په دې ځای او په دې لويه ورځ کې، او بايد جامع ذکرونه او دعاگانې غوره کړې:

* (سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمُ). **ژباړه:** «پاکي وايم د اللّٰه تعالی په ستاينې د هغه، پاکي وايم د لوی اللّٰه تعالی».

* ﴿... لَا إِلَٰهَ إِلَّا أَنتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ الظَّالِمِينَ ۝٧٨﴾ [الأنبياء: ٧٨]. **ژباړه:** «نشته هيڅ لايق د عبادت مگر ته يې، ته پاك يې، بېشکه هم زه له ظالمانو څخه يم» (الأنبياء سورت: ٧٨ آيت).

* (لا إِلَهَ إِلَّا اللّٰه وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ وَلَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰه مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ). **ژباړه:** «له اللّٰه پرته بل هيڅ معبود نشته، او مونږ له

(١) مسلم د سمرة بن جندب رضي الله عنه څخه په (٢١٣٧) شمېره روايت کړی دی.

هغه پرته د بل هيڅا عبادت نه کوو، هغه لره لوريني او هغه لره فضل دى، او د هغه لپاره ښه ستاينه ده، له اللّٰه پرته بل هيڅ معبود نشته، (مونږ) هغه ته په عبادت کې اخلاص کوونکي يو، که څه هم کافران (زمونږ دا کړنه) بده مني»[1].

* (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰه). ژباړه: «نشته اړول د ګناه څخه، او طاقت ورکول د نيکۍ کولو مګر د اللّٰه تعالى په مرسته»[2].

* ﴿... رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿٢٠١﴾﴾ [البقرة: ٢٠١]. ژباړه: «اې زمونږ ربه مونږ ته په دنيا کې هم نعمت راکړه او په اخرت کې هم نعمت راکړه او د اور له عذاب څخه مو وساته» (البقرة سورت: ٢٠١ آيت).

* (اللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ

---

(١) مسلم په (٥٤٩) شمېره روايت کړى دى.

(٢) مسلم د ابن زبير رضي الله عنه څخه په (٥٩٤) شمېره روايت کړى دى.

كُلِّ شَرٍّ). ژباړه: «يا اللّٰه! دين مې راته اصلاح کړه؛ هغه چې زما د چارو ساتنه په کې ده، دنيا مې راته اصلاح کړه؛ هغه چې زما ژوند په کې دی، آخرت مې راته اصلاح کړه؛ چېرته چې زما ورګرځېدل دي، او ژوند راته د هرې ښېګنې د زياتوالي سبب وګرځوه، او مرګ راته له هر شر څخه د خلاصي سبب وګرځوه»[1].

* (أَعُوذُ بِاللّٰه مِنْ جَهْدِ البَلاَءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، وَسُوءِ القَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ). ژباړه: «يا اللّٰه! تا ته پناه دروړم له سخت مصيبت څخه، او د راګېرولو د بدبختۍ څخه، او د (تقدير) له بدې فيصلې څخه، او له دې څخه چې دښمنان په ما (زما په مصيبت) خوشحاله شي»[2].

* (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، ومِنَ الْمَأْثَمِ والْمَغْرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَقَهْرِ الرِّجَالِ). ژباړه: «يا

---

(١) مسلم په (٢٧٢٠) شمېرې سره، له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت کړی دی.

(٢) بخاري په (٦٣٤٧) شمېره له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت کړی دی.

اللّٰه ! زه پر تا له خفگان او غم څخه پنا غواړم، او زه پر تا له کمزورۍ او تنبلۍ څخه پناه غواړم، او زه پر تا له بزدلۍ او بخل څخه پناه غواړم، او زه پر تا د گناه او قرض له اووښتو او د سړيو له قهر څخه پناه غواړم»[۱].

* (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَسَيِّءِ الأَسْقَامِ). **ژباړه:** «اې اللّٰه زه پناه نيسم پر تا له پيس (برگي مرض)، ليونتوب، هډوكي خوړونكي مرض او له بدو ناروغيو څخه پناه غواړم»[۲].

* (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسأَلُك العَفْو والعَافِيَةَ فِي الدُنيا والآخِرة، اللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللّٰهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنَ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِيْ، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي). **ژباړه:** «اې اللّٰه، زه له تا څخه په دنيا او آخرت كې د بخښنې او عافيت غوښتنه كوم، يا اللّٰه! زما شرمگاه -

---

(۱) په دې لفظ سره ابو داود د ابو امامة انصاري پرته له دې قول څخه: (ومن المأثم والمغرم) په (۱۵۵٤) شمېره روايت كړى دى.

(۲) ابو داود د انس رضي الله عنه څخه په (۱۵۵٤) شمېره روايت كړى دى.

او يا شرمګاوې په پرده کې وساته، او زما وېره په امن بدله کړه، يا اللّٰه زما د مخې، زما د شا، زما د ښي اړخ، زما د چپ اړخ، زما د پاسه او د لاندې له خوا زما ساتنه وکړه، او ستا په لويې پناه نيسم له دې چې د لاندې له خوا ترور شم»[1].

* (اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي، وَخَطَئِي وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ). **ژباړه:** «يا اللّٰه ما ته مې د ټوکو او رېښتيا ګناهونه وبخښه، او زما تېروتنې، او زما په لوى لاس ګناهونه وبخښه، چې دا ټول ګناهونه په ما کې شته دي، يا اللّٰه ما ته زما مخکنې او وروستنې ټول ګناهونه وبخښه، او ما ته مې پټ او ښکاره ګناهونه وبخښه، او هغه ګناهونه چې ته پرې له ما ښه خبر يې، يا اللّٰه يقينا ته مخکې کوونکى يې او ته وروسته کوونکى يې، او بېشکه ته پر هر څه برلاسى يې»[2].

---

(١) ابو داود د ابن عمر رضي الله عنه څخه په (٥٠٧٤) شمېره روايت کړى دى.

(٢) د حديث يوه برخه مسلم ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه په (٢٧١٩) شمېره روايت کړى دى.

* (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ حُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا، وَلِسَانًا صَادِقًا، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ).

**ژباړه:** «اې الله زه له تا څخه په کار کې د استقامت، او د نيکۍ لپاره د عزم غوښتنه کوم، او غواړم چې ستا د نعمتونو شکر ادا کړم، او ستا ښه عبادت وکړم، او د سالم زړه او رښتينې ژبې غوښتنه کوم، او د هغه څه د ښېګڼې غوښتنه کوم چې ته پرې پوهېږې، او د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې ته پرې پوهېږې، او له هغه څه چې ته پرې پوهېږې بخښنه غواړم، ځکه چې ته په غيبو ښه عالم يې»[1].

* (اللَّهُمَّ رَبَّ النَّبِيِّ مُحَمَّدٍ، اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَذْهِبْ غَيْظَ قَلْبِي، وَأَجِرْنِي مِنْ مُضِلَّاتِ الْفِتَنِ مَا أَحْيَيْتَنَا). **ژباړه:** «اې د پيغمبر محمد عليه الصلاة والسلام ربه، زما ګناه وبخښه، زما له زړه څخه

---

(۱) ترمذي له شداد بن اوس رضي الله عنه څخه په (۳٤۰۷) شمېره روايت کړی دی.

غوسه لرې کړه، او تر هغه وخته پورې چې ما ژوندی ساتې، ما له گمراه کوونکو فتنو څخه وساته»[١].

* (اللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْفُرْقَانِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللّٰهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ، اقْضِ عَنَّا الدَّيْنَ، وَأَغْنِنَا مِنَ الْفَقْرِ). **ژباړه:** «اې د آسمانونو او ځمکې او د لوی عرش، پالونکیه (ربه)! او زمونږ او د هر شي ربه، د دانې او زړي چوونکیه، د تورات، انجیل او فرقان نازلوونکیه، پناه دروړم تاته د هر هغه شي له شر نه چې ته یې له پیکې څخه نیسې، یا اللّٰه تعالی! ته اول یې له تا څخه مخکې څه نشته، او ته آخر یې له تا څخه وروسته څه نشته، او ته اوچت یې نو له تا څخه پورته څوک نشته، او ته (د ذات په لحاظ) پټ یې له تا څخه بل څوک پټ نشته؛ زمونږ څخه پور پرې کړه، او مونږ د

---

(١) احمد د ام سلمة رضي الله عنها د حدیث په (٣٠١/٦) کې روایت کړی دی.

غريبى څخه مالداره کړه»[1].

* (اللّٰهُمَّ أَعْطِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا، أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا، اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ). **ژباړه:** «اې اللّٰه، زما نفس ته تقوا ورکړه، او پاک يې کړه، ځکه چې ته يې تر ټولو غوره پاک کوونکی يې، ته يې ساتونکی او مالک يې، اې اللّٰه، زه له بې وسۍ او سستۍ څخه په تا سره پناه غواړم، او له بې وزلۍ او بوډاتوب او بخل، او د قبر له عذاب څخه په تا سره پناه غواړم»[2].

* (اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، أَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ أَنْ تُضِلَّنِي لا إِلَهَ أَنْتَ الحَيُّ الذِيْ لَا يَمُوْتُ، والْجِنُّ والْإِنْسُ يَمُوْتُوْنَ). **ژباړه:** «يا اللّٰه! ما ستا حکم ته غاړه اېښې ده، او پر تا مې ايمان راوړی، او پر تا مې بروسه کړې، او تا ته راګرځېدلی يم، او ستا لپاره مې جګړه کړې، يا اللّٰه!

---

(١) مسلم د ابو هريرة رضي الله عنه له حديث څخه په (٢٧١٣) شمېره روايت کړی دی.

(٢) مسلم د زيد بن ارقم رضي الله عنه د حديث څخه په (٢٧٢٢) شمېره روايت کړی دی.

زه ستا پر عزت او ځواک پناه غواړم، نشته په حقه سره معبود پرته له تا څخه، (پناه غواړم) له دې نه چې ته ما ګمراه کړې، ته هغه ژوندی ذات يې چې هېڅ نه مړ کېږې، او پېريان او انسانان مړه کېږي»[1].

* (اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا). **ژباړه:** «اې الله، په تا سره پناه غواړم زه له هغه علم څخه چې بې ګټې وي، او له هغه زړه څخه چې له تا نه نه وېرېږي،او له هغه نفس څخه چې نه مړېږي، او له هغې دعا څخه چې نه قبلېږي»[2].

* (اللَّهُمَّ جَنِّبْنِي مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ، وَالْأَعْمَالِ، وَالْأَهْوَاءِ، وَالْأَدْوَاءِ) **ژباړه:** «اې الله، ما له بدو اخلاقو، اعمالو، خواهشاتو او ناروغيو څخه وساته»[3].

---

(۱) مسلم د ابن عباس رضي الله عنهما د حديث څخه په (۲۷۱۷) شمېره روايت کړی دی.

(۲) د زيد بن ارقم رضي الله عنه د حديث يوه برخه ده چې مخکې په (۲۷۲۲) شمېره روايت شوی دی.

(۳) ترمذي له زياد بن علاقة له خپل تره څخه په (۳۵۹۱) شمېره روايت کړی دی.

* (اللّٰهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي، وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي). ژباړه: «اې اللّٰه ما ته خپل رشد او عقل را کړه، او د نفس له شر څخه مې وساته»[1].

* (اللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ). ژباړه: «اې اللّٰه، ما د حرامو څخه په حلالو سره وساته، او په خپل فضل سره مې له نورو څخه بې نيازه کړه»[2].

* (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالتُّقَى وَالْعَفَافَ وَالْغِنَى). ژباړه: «يا اللّٰه! زه له تا څخه هدايت، تقوی، پاک لمنتوب او مالداري غواړم»[3].

* (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْهُدَى وَالسَّدَادَ). ژباړه: «اې اللّٰه، زه له تا څخه د لارښووني او برياليتوب غوښتنه کوم»[4].

---

(۱) ترمذي د عمران بن حصين رضي الله عنه له حديث څخه په (۳٤۸۳) شمېره روايت کړی دی.

(۲) ترمذي د علي رضي الله عنه د حديث څخه په (۳٥٦۳) شمېره روايت کړی دی.

(۳) مسلم د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث څخه په (۲۷۲۱) شمېره روايت کړی دی.

(٤) ترمذي د علي رضي الله عنه د حديث څخه په (۲۷۲٥) شمېره روايت کړی دی.

* (اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الْخَيْرِ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ محمد صلى اللّٰه عليه وسلم، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ محمد صلى اللّٰه عليه وسلم، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهُ لِي خَيْرًا) **ژباړه:** «يا اللّٰه! زه له تا څخه ټول ببړنی او وروستنی خير غواړم، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې ناخبره يم، او تا ته پناه دروړم له ټول ببړني او وروستني شر څخه، هغه چې زه پرې خبر يم او هغه چې زه ترې نا خبره يم، يا اللّٰه! زه له تا څخه د هغه خير غوښتنه کوم چې له تا څخه ستا بنده او پيغمبر محمد صلى اللّٰه عليه وسلم غوښتی ؤ، او تا ته له هغه شر څخه پناه دروړم له کوم څخه چې ستا بنده او پيغمبر پناه غوښتې وه، يا اللّٰه! زه له تا څخه جنت او هغه وينا او عمل غواړم چې جنت ته پرې نږدې کېدل کېږي، او له اور او هغې وينا او عمل

څخه پناه غواړم چې په هغې سره اور ته نږدې کېدل کېږي، او له تا څخه غواړم چې هره فيصله (پرېکړه) چې زما په اړه کوې، هغه ماته خير وګرځوې»[1].

* (لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰه وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، الحَمْدُ لِلَّهِ، وَسُبْحَانَ اللّٰه، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰه، وَاللّٰه أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰه العلي العظيم). **ژباړه:**

«له اللّٰه پرته بل معبود نشته، هغه يو دى شريک نه لري، او هغه پاک ذات لره يوازې بشپړه واکمني ده، هغه له نورو پرته د محبت او تعظيم سره د ثنا او ستاينې وړ دى، هغه د ژوند او مرګ ورکوونکى دى، او د هغه په لاس کې خير دى، او هغه په هرڅه قادر دى، پاکي ده اللّٰه لره، او ستاينه ده اللّٰه لره، او له اللّٰه پرته بل معبود نشته، او اللّٰه لوى دى، او نشته هيڅ ځواک او قوت پرته له ستر اللّٰه څخه»[2].

---

(١) ابن ماجه د عائشة رضي الله عنها د حديث څخه په (٣٨٤٦) شمېره روايت کړى دى.

(٢) بخاري د عبادة بن الصامت رضي الله عنه د حديث څخه په (١١٥٤) شمېره روايت کړى دى.

* (اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ). ژباړه: «ياالله! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پركورنۍ رحمت ووروه، لكه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پركورنۍ دې چې ورولي وو، بېشكه ته ستايل شوى او لوى يې. يا الله ! پر محمد صلى الله عليه وسلم او د هغه پر كورنۍ بركتونه ووروه، لكه پر ابراهيم عليه السلام او د هغه پركورنۍ دې چې ورولي وو، بېشكه ته ستايل شوى او لوى يې»[(١)].

* ﴿... رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۝٢٠١﴾ [البقرة: ٢٠١]. ژباړه: «اې زمونږ ربه مونږ ته په دنيا كې نعمت راكړه او په اخرت كې هم نعمت راكړه او د اور له عذابه مو وساته» (البقرة سورت: ٢٠١ آيت).

په دې ستر موقف كې د حاجى لپاره مستحب دي چې ياد

(١) بخاري د كعب بن عجرة رضي الله عنه د حديث څخه په (٣٣٧٠) شمېره روايت كړى دى.

ذکرونه او دعاګانې تکرار کړي، او دې ته ورته نور ذکرونه او دعاګانی او پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندې دې درود ووايي، او په دعا کې دې اصرار او ټينګار وکړي، او له خپل رب څخه دې د دنيا او آخرت ښېګڼه وغواړي، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا کوله، نو هغه به درې ځله تکراروله، نو موږ بايد په دې اړه د هغه علیه الصلاة والسلام متابعت وکړو.

مسلمان په دې موقف کې بايد خپل رب تعالی ته په ډېر تواضع، عاجزۍ او خپلې ناچارتيا سره مخ کړي، د هغه په وړاندې خپل سر ښکته کړي، د هغه رحمت او مغفرت ته هيله ولري، د هغه له عذاب او غضب څخه ووېرېږي، خپل ځان سره دې محاسبه وکړي، سوچه او صادقانه توبه دې وباسي؛ ځکه چې دا ډېره لويه ورځ او تجمع ده، چې الله په دې کې خپلو بنده ګانو ته بې پايله سخاوت کوي، او د خپلو ملائکو په وړاندې پر هغوی فخر کوي، او په دې ورځ کې د دوزخ څخه ډېر خلک خلاصېږي، او شيطان هېڅکله په داسې ورځ نه دی ليدل شوی چې هغه د عرفې د ورځې په پرتله ډېر مات شوی، کوچنی، ډېر سپک شوی وي، پرته له هغه څه چې هغه د بدر په ورځ لېدل شوی و، دا د الله د بې پايلو فضلونو، د هغه د مغفرت او د خپلو بنده ګانو د ازادولو له امله ده

چې شيطان يې په دې ورځ کې ويني.

په صحيح مسلم کې، د عائشې رضی اللّٰه عنها په روايت دی، چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: **ژباړه:** «د عرفې د ورځې په څېر بله کومه ورځ نشته چې اللّٰه تعالی پکې ډېر بندګان له اور څخه ازادوي، او اللّٰه تعالی نږدې کېږي او د ملايکو پر وړاندې هغوی باندې فخر کوي، او فرمايي: دوی څه غواړي؟»[١].

مسلمانانو ته ښايي چې د خپلو ځانونو اللّٰه تعالی ته ورښکاره کړي (ډېر نېک عملونه وکړي)، او خپل دښمن شيطان ذليل او غمجن کړي، او شيطان دې خفه کړي په ډېر ذکر، دعا، او په دوامداره توګه توبه وېستل او استغفار ويل له ټولو ګناهونو او سرغړونو څخه، حاجيان دې د لمر تر پرېوتو پورې په دې موقف کې په ذکر، دعا او تضرع باندې بوخت وي، کله چې لمر پرېوځي، نو په سکون او وقار سره دې مزدلفې ته روان شي، او ډېره تلبيه دې وايي او که ګڼه ګوڼه نه وي په چټکۍ سره دې تېر شي؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم همداسې کړي و، او د لمر د پرېوتو څخه

(١) مسلم د عائشې رضي الله عنها له حديث څخه په (١٣٤٨) شمېره روايت کړی.

مخکې د وتلو اجازه نشته؛ ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم تر لمر پرېوتو پورې ولاړ و، او ويې فرمايل: (خُذُوْا عَنِّيْ مَنَاسِكَكُمْ)، ژباړه: «زما د حج طريقې او اعمال زما څخه واخلئ -زده کړئ»[1].

کله چې مزدلفې ته ورسېږي، نو کله چې ورسېدل په يو اذان او دوه اقامتونو سره دې د ماښام لمونځ درې رکعته او د ماسخوتن لمونځ دې دوه رکعته ادا کړي؛ د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عمل له مخې، برابره خبره ده که دوی مزدلفې ته د لمر لوېدو په وخت او يا د ماسخوتن د لمانځه د وخت د داخلېدو وروسته ورسېدل.

هغه څه چې ځيني عام خلک يې ترسره کوي چې د جمراتو ويشتلو لپاره د لمانځه څخه مخکې او مزدلفې ته د رسېدو سره سم څخه د کاڼو راټولولو باندې پيلوي، او د ډېرى خلکو دا عقيده چې دا جائز ده، حال دا چې دا غلط عمل دی او هېڅ اساس نه لري، او رسول الله صلی الله علیه وسلم امر نه دی کړی چې د جمراتو لپاره کاڼي را ټول نه کړی شي تر هغه چې له مشعر څخه منی ته ستون شي، او له هر ځای څخه چې کاڼي راټول کړي، هغه لپاره

(۱) ددی روايت تخريج مخکې تېر وی دی.

کافي ده، او د مزدلفې څخه يې راتلول اړين او اجباري نه دي، بلکې د منی څخه يې هم راتلول جائز دي، او سنت دا دی چې په دې ورځ اووه کاڼې راټول کړي، ترڅو جمرة العقبه ورباندې وولي، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيروۍ له مخې، او د درېو ورځو لپاره، هره ورځ له منی څخه دې يوويشت کاڼې را ټول کړي ترڅو درې جمرات ورباندې وويشتل شي.

د تيږو مينځل مستحب نه دي، بلکې د مينځلو پرته بايد ورباندې وويشتل شي؛ ځکه چې دا له رسول الله صلی الله عليه وسلم، او د هغه له اصحابو څخه نه دي نقل شوي، او په ويشتلو کې د ويشتل شويو تيږو څخه بايد ګټه وا نه خيستل شي.

حاجي شپه په مزدلفه کې تېروي، او د کمزورو ښځو، ماشومانو او د دوی په څېر نورو لپاره د شپې په پای کې د منی په لور حرکت کول جائز دي؛ د عايشه، ام سلمه او نورو رضی الله عنهم د حديث له مخې. او د نورو حاجيانو په اړه، تاکيد شوې ده چې دوی بايد مزدلفه کې تر هغه وخته پاتې شي تر څو چې د سهار لمونځ وکړي، بيا په مشعر الحرام کې ودرېږي، قبلې ته مخ اړوي، او د الله تعالی ذکر، تکبير او دعا دې ډېره کوي، تر هغه چې په بشپړه توګه رڼا شي. دلته د دعا کولو پر مهال لاسونه پورته کول مستحب

دي، او په مزدلفه کې هر ځاى کې چې ودرېږي، دا د دوى لپاره کافي ده، او دوى باندې واجب نه دى چې مشعر ته ځان نږدې کړي او يا هلته پورته شي؛ د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د وينا له مخې چې فرمايي: ژباړه: «دلته ودرېدم - يعني: مشعر باندې - او جمع (د مزدلفې ننبه) ټول موقف دى»[١]. مسلم په خپل صحيح کې روايت کړى، او جمع: مزدلفې ته وايي.

او کله چې ورځ ډېره روښانه شوه، نو دوى بايد د لمر ختو څخه مخکې منى ته لاړ شي، او دوى بايد په لاره کې ډېره تلبيه ووايي، او کله چې دوى (وادي) محسر ته ورسېږي، نو مستحب ده چې لږ دې بيړه وکړي.

کله چې حاجيان منى ته ورسېږي، تلبيه ويل دې د جمرة العقبې سره قطع کړي، بيا دې د رسېدو سره سم پرلپسې په اوو کاڼو جمرة العقبه و ولي، او د هر کاڼي د ويشتلو سره دې خپل لاس پورته کړي او اللّٰه اکبر دې ووايي، او دا مستحب ده چې د وادي له منځه جمرة العقبه وويشتل شي، چې کعبه د هغه چپ اړخ ته وي او منى يې ښي اړخ ته وي؛ د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د

(١) مسلم د جابر رضي الله عنه د حديث څخه په (١٢١٨) شمېره روايت کړى دى.

عمل له مخې، او که له بل اړخ څخه يې وولي، نو دا د هغه لپاره کافي ده، په دې شرط چې کاڼې د نښې ځاى کې ولوېږي، او دا شرط نه دى چې کاڼې د نښې ځاى کې پاتې شي، بلکې هغه څه چې اړين دي دا دي چې کاڼې پکې ولوېږي، نو که چېرې کاڼې د نښې په ځاى کې ولوېږي او بيا له هغې څخه راووځي، نو دا د علماوو د ظاهر قول له مخې کافي ده، او د هغو کسانو له ډلې څخه چې دا ئې په واضح ډول بيان کړې دى، نووي (رحمه اللّٰه) په (شرح المهذب) کې ذکر کړې دى، او د جمراتو د ويشتلو کاڼې د خذف (هغه اندازه واړه کاڼې چې په دوو ګوتو ويشتل کېږي) په څېر وي، چې د نخود داني څخه يو څه لوې وي.

بيا، د جمراتو د ويشتلو وروسته، خپل د قربانۍ څاروى حلالوي، او مستحب ده چې د نحر او يا ذبح کولو په وخت کې ووايي: (بِسْمِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُمَّ هَذَا مِنْكَ وَلَكَ)، **ژباړه:** «د اللّٰه په نوم پيلوم، او اللّٰه تر ټولو لوى دى، اې اللّٰه، دا ستا له خوا ده او ستا لپاره دى»[1]، او مخ يې بايد قبلې لورې ته وګرځوي، سنت دا

(۱) عبدالرزاق په خپل کتاب (مصنف عبدالرزاق) کې په (۱۹٤۷۹) شمېره روايت کړې دى.

دی چې اوښان په مستقيم ډول ودرول شي او کيڼ مخکينی پښه يې وتړل شي، او غواګانې او پسونه په چپ اړخ باندې ذبح کېږي، که د قربانۍ مخ قبلې لورې ته نه وي، نو هغه سنت پرېښی دی او د هغه قرباني ورته کافي ده، ځکه چې د ذبحې پر مهال قبلې ته د قربانۍ مخ اړول سنت دی او واجب نه دی، او د قربانۍ څخه خوړل، ډالۍ کول او صدقه ورکول مستحب دي؛ لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿... فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْبَائِسَ الْفَقِيرَ ﴿٢٨﴾﴾ [الحج: ٢٨]. ژباړه: «نو له هغو نه تاسو هم وخورئ او په تنګلاسي فقير يې هم وخورئ» (الحج سورت: ٢٨ آيت). د علماوو د صحيحو اقوالو له مخې، د حلالولو وخت د تشريق د ورځو د دريمې ورځې تر لمر لوېدو پورې دوام لري، په دې توګه، د حلالولو موده د قربانۍ ورځ او له هغې وروسته درې ورځې دي.

بيا د قربانۍ خاروي له ذبح کولو وروسته، سر خرېل يا لنډول، او خرېل غوره دی؛ ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو کسانو لپاره چې خپل سرونه خريي (درې ځله) او د هغو کسانو لپاره چې خپل ويښتان لنډوي، يو ځل د رحمت او بخښنې دعا کړې ده، د سر يوه برخه لنډول کافي نه ده، بلکې د ټولو ويښتانو لنډول اړين دي، لکه د خرېلو په څېر، او ښځه بايد د

هرې کوڅې ځخه د ګوتې د بند او يا له هغې ځخه هم لږ لنډ کړي.

د جمرة العقبة له ويشتلو او د وېښتانو د خريلو يا لنډولو وروسته، حاجي لپاره ټول هغه څيزونه چې د احرام په وخت کې ورباندې حرام ګرځېدلي و حلالېږي پرته له ښځو څخه، او دې حلالوالي ته: لومړی حلالوالی ويل کيږي، او سنت دی چې له دې حلالوالي وروسته عطر وکاروي او د طواف افاضې لپاره مکې ته لاړ شي؛ د عايشه رضی اللّٰه عنها د حديث له مخې، چې ويل يې:

**ژباړه:** «مخکې له دې چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم احرام وتړي، او د احرام له حلالې څخه وروسته او مخکې له دې چې د کعبې طواف وکړي ما به ورته عطر او خوشبويي استعمالول»[1]، بخاري او مسلم روايت کړی دی.

دې طواف ته: طواف افاضه، او د زيارت طواف ويل کېږي، دا د حج له ارکانو څخه يو رکن دی، چې پرته له هغه څخه حج نه بشپړېږي، دا هغه څه دي چې د اللّٰه تعالی د دې وينا څخه مراد دي: ﴿... ثُمَّ لْيَقْضُوا تَفَثَهُمْ وَلْيُوفُوا نُذُورَهُمْ وَلْيَطَّوَّفُوا بِالْبَيْتِ الْعَتِيقِ ﴿٢٩﴾﴾ [الحج: ٢٩]. **ژباړه:** «بيا دې دوی خپل خيري لرې

(١) بخاري په (١٥٣٩) شمېره، او مسلم په (١١٨٩) شمېره روايت کړی دی.

کړي او خپل نذرونه دې پوره کړي او د قديم (او عزتمن) کور طوافونه دې وکړي» (الحج سورت: ۲۹ آيت).

بيا، د طواف او د مقام شاته دوه رکعته لمونځ کولو وروسته، د صفا او مروه ترمنځ دې سعی وکړي، که چېرې د تمتع حج نيت يې کړی وي، او دا سعی د هغه د حج لپاره ده، او لومړی سعی يې د هغه د عمرې لپاره ده.

د علماوو تر ټولو صحيح قول له مخې، يوه سعی کافي نه ده؛ د عائشې رضی اللّٰه عنها د حديث له مخې چې ويل يې: موږ د رسول صلی اللّٰه عليه وسلم سره ووتلو، او حديث يې ذکر کړ، چې په هغه کې يې وفرمايل: ژباړه: «او چا سره چې د قربانۍ څاروی وي، هغه بايد د حج او عمرې لپاره نيت وکړي، بيا دې له احرام څخه ځان نه حلالوي تر هغه چې دواړه يې ترسره کړي نه وي...» تر دې چې وايي: ژباړه: «هغه کسان چې د عمرې لپاره يې احرام تړلي و، د بيت اللّٰه، صفا او مروه طواف يې وکړل، بيا يې له احرام څخه ځانونه حلال کړل، او کله چې له منی څخه راستانه شول د حج لپاره يې بل طواف وکړ»[1]. بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(۱) بخاري په (۱۵۵٦) شمېره، او مسلم په (۱۲۱۱) شمېره روايت کړی دی.

او د هغې رضي الله عنها دا خبره، د هغو کسانو په اړه چې د عمرې لپاره احرام تړلی و: (ثُمَّ طَافُوْا طَوَافًا آخَرَ بَعْدَ أَنْ رَجَعُوْا مِنْ مِنَى لِحَجِّهِمْ)، **ژباړه:** «بيا يې له منى څخه د حج لپاره له راستنېدو وروسته بل طواف وکړ»[1]، په دې معنى ده چې: د صفا او مروه ترمنځ طواف کول دي، د دې حديث په تفسير کې تر ټولو صحيح نظر همدغه دی، د هغو کسانو وينا چې ويلي يې دي: د هغې منظور د طواف افاضې څخه دی، دا صحيح نه دی؛ ځکه چې طواف افاضه د هر چا لپاره يو رکن دی او دوی ترسره کړې و، له دې څخه مراد هغه څه دي چې د تمتع کوونکي لپاره ځانګړي دي، کوم چې د صفا او مروه ترمنځ د دوهم ځل لپاره د حج د بشپړولو لپاره له منى څخه د راستنېدو وروسته طواف دی، او دغه موضوع الحمد لله واضحه ده، او دا د ډېرو علماوو نظر دی.

د دې په صحت باندې هغه څه دلالت کوې کوم چې بخاري په صحيح کې د ابن عباس رضی الله عنهما په روايت سره په قطعي سند سره روايت کړی دی، چې له هغه څخه د تمتع حج په اړه پوښتنه وشوه، هغه وويل: **ژباړه:** «مهاجرينو او انصارو او د رسول

---

(۱) مسلم په (۱۲۱۱) شمېره روايت کړی دی.

اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم مېرمنو او مونږ، په حجة الوداع كې، د حج كولو لپاره احرام وتړو، كله چې مونږ مكې ته ورسېدو، رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: د حج او عمرې نيت وكړئ، پرته له هغو كسانو څخه چې د قربانۍ خاروى يې له ځانه سره راوستى وي، نو مونږ د بيت اللّٰه او په صفا او مروه طواف وكړ، او مونږ خپلو ښځو سره يو ځاى شولو، او جامې مو واغوستلې، او ويې فرمايل: چا چې د قربانۍ خاروى له ځانه سره راوستى وي، هغه به تر هغه پورې له احرام څخه حلال نشي تر څو چې د قربانۍ خاروى ذبح كړي، بيا يې مونږ ته د ترويې په شپه امر وكړ چې د حج لپاره احرام وتړو، او كله چې مونږ د حج مراسم پاى ته ورسول، مونږ راغلو او د بيت اللّٰه او صفا او مروه طواف مو وكړ»[1]. د هغه څخه مراد پاى ته ورسېد، او د تمتع كوونكي حج د دوو سعى لپاره صريح قول دى، و اللّٰه اعلم.

او هغه څه چې مسلم د جابر رضي اللّٰه عنه څخه روايت كړى دى: ژباړه: «پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم او د هغه صحابه وو د

(١) بخاري په (١٥٧٢) شمېره روايت كړى دى.

صفا او مروه تر منځ طواف نه دی کړی مگر يو طواف»[۱]. د دوی لومړی طواف د هغو صحابه کرامو ته منسوب دی چې د قربانۍ ځاروي يې له ځانه سره راوړي و، ځکه چې دوی د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم سره د احرام په حالت کې پاتې شول، تر هغه چې دوی حج او عمره دواړه بشپړ کړل، او رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم د حج او عمرې لپاره احرام تړلی و، او هغو کسانو ته يې امر وکړ چې د قربانۍ ځاروي يې له ځانه سره راوړي وي، د حج او عمرې لپاره دې احرام وتړي، او تر هغه چې دواړه يې نه وي بشپړ کړي، احرام دې خلاص نه کړي. ځوک چې قارن وي (حج او عمره سره يوځای کوي)، هغه يوازې يوه سعی کوي، لکه څنگه چې د جابر رضی اللّٰه عنه د ذکر شوي حديث او نورو صحيحو احاديثو څخه څرگنديږي.

همدارنگه څوک چې د اِفراد حج وکړي او د قربانۍ تر ورځې پورې په احرام کې پاتې شي، هغه بايد يوازې يوه سعی وکړي، که قارن او مفرد د طواف قدوم وروسته سعی وکړي، نو دا به د هغه سعې لپاره کافي وي چې د افاضې له طواف وروسته يې

(۱) مسلم په (۱۲۱۵) شمېره روايت کړی دی.

ترسره کوي، او دا د عايشې او ابن عباس د احاديثو او د جابر رضي الله عنهم د حديث ترمنځ جمع راولي کوم چې پورته ذکر شو، او په دې توګه تعارض له منځه ځي او ټولو احاديثو باندې عمل کېږي.

هغه څه چې د دې ترکيب تاييد کوي دا دی چې د عايشې او ابن عباس رضي الله عنهما حديثونه دواړه صحيح حديثونه دي، او دوی د تمتع کوونکي لپاره دويمه سعی ثابت کړې ده، او د جابر رضي الله عنه د حديث ظاهري معنی دا ردوي، او هغه څه چې ثابت وي پر نفی کولو باندې لومړيتوب لري، لکه څنګه چې په علم اصول او علم مصطلح حديث کې ثابت دي، او الله تعالی هغه ذات دی چې سم لوري ته لارښوونه کوي، او هېڅ ځواک او قوت نشته مګر په الله تعالی باندې.

# فصل

## د هغه اعمالو د افضليت بيان چې حاجي يې د قربانۍ په ورځ ترسره کوي

د حاجي لپاره غوره ده چې د قربانۍ په ورځ دا څلور مسايل لکه څنګه چې يادونه يې وشوه ترتيب کړي: لومړی بايد د جمرة العقبة په ويشتلو باندې پيل وکړي، بيا قرباني، بيا د وېښتانو خريل يا لنډول، بيا د بيت اللّٰه طواف، او هغه نه وروسته د تمتع کوونکي لپاره سعي، او همدارنګه د مفرِد او قارن لپاره سعی که چېرې دوی د طواف قدوم سره يې سعي نه وي کړې، که هغه د دې اعمالو څخه ځينې يې د نورو څخه مخکې ترسره کړ، دا د هغه لپاره کافي ده؛ ځکه چې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم رخصت په دې اړه ثابت شوی دی، او په دې کې د طواف څخه مخکې سعی کول هم شامل دي؛ ځکه چې دا د هغو اعمالو څخه دی چې د قربانۍ په ورځ ترسره کېږي، نو دا د صحابي په دې وينا کې شامل دی: ژباړه: «دا کار وکړه، حرج او ستونزه نشته»[1]. او ځکه چې دا هغه

(۱) بخاري د عبدالله بن عمرو بن العاص څخه په (۸۳) شمېره، او مسلم په (۱۳۰۶) شمېره روايت کړی دی.

څه دي چې هېرېدل او ناپوهي په کې رامنځته کېږي، له دې کبله عموم کې شامل شو؛ له دې امله چې په دې کې اسانتيا او سهولت دی.

او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه ثابت شوي دي چې له هغه څخه د هغه چا په هکله پوښتنه وشوه چې د سعي څخه مخکې يې طواف کړی دی، ويې فرمايل: **ژباړه:** «په دې کې حرج او ستونزه نشته»[1]. دا حديث ابو داود د اسامه بن شريک په روايت په صحيح سند سره روايت کړی دی، په دې سره دا څرګنده شوه چې دا په عمومي معنا کې پرته له شکه شامل دی. او الله تعالی توفيق ورکوونکی دی.

هغه درې شيان چې حاجي ته له احرام څخه پوره تحلل او خلاصون بخښي عبارت دي له: د جمرة العقبة ويشتل، د ويښتانو خريل يا لنډول، د سعی سره طواف افاضه کول د پورته ذکر شويو کسانو لپاره، که چېرته دغه درې واړه اعمال ترسره کړي، هر هغه څه چې د احرام په حالت کې پرې حرام وو، لکه: ښځې، عطر او نور شيان، د هغه لپاره حلالېږي، که هغه له دې درې اعمالو څخه

(۱) ابو داود په (۲۰۱۵) شمېره روايت کړی دی.

دوه اعمال ترسره کړ، نو هر هغه څه چې د احرام په حالت کې پرې حرام وو، حلالېږي، پرته له ښځو څخه، دې ته لومړی تحلل ويل کېږي.

حاجي لپاره مستحب ده چې د زمزم اوبه وڅښي او خپله ګېډه پرې ډکه کړي، او هر ډول ګټورې دعا چې کولی شي، تر سره دې کړي، او ژباړه: «د زمزم اوبه د هر هغه څه لپاره دي چې هغه لپاره وڅښل شي»[١]. لکه څنګه چې په صحيح مسلم کې د ابوذر رضی اللّٰه عنه څخه روايت دی چې: پيغمبر صلی اللّٰه عليه وسلم د زمزم د اوبو په اړه فرمايلي دي: ژباړه: «دا د خوراک لپاره خواړه دي»[٢]، ابو داود زيات کړی: ژباړه: «او د مرض لپاره شفا ده»[٣].

د طواف افاضې او سعې (د هغو کسانو لپاره چې سعي کولو باندې مکلف دي) د ادا کولو وروسته، حاجيان منی ته راستنېږي

---

(١) ابن ماجه د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه په (٣٠٦٢) شمېره روايت کړی دی.

(٢) مسلم په (٢٤٧٣) شمېره روايت کړی دی.

(٣) يعني: ابو داود الطيالسي، چې دا حديث يې د ابو ذر رضی الله عنه د اسلام راوړلو په کيسه کې نقل کړی دی. تفصيل لپاره د ابو داود الطياليسي (٣٦٤/١) شمېره (٤٥٩) مسند وګورئ.

او هلته درې ورځې او شپې تېروي، او د دې درې ورځو په ترڅ کې د زوال څخه وروسته درې واړه جمرات ولي، او د جمراتو ويشتل بايد په ترتيب سره ترسره شي.

هغه د لومړۍ جمرې څخه پيل کوي: کوم چې د خيف جومات سره نږدې ده، او دغه جمره په پرله پسې ډول په اوو تيږو ولي، او د هرې تيږې په ويشتلو سره بايد خپل لاس پورته کړي، او سنت ده چې د هغې څخه مخ په وړاندې لاړ شي او هغه دې د خپل چپ اړخ ته پرېږدي، او قبلې ته دې مخ واړوي، او خپل لاسونه دې پورته کړي، ډېري دعاګانې او عاجزي دې وکړي.

بيا به د لومړي جمرې په څېر دويمه جمره هم وولي، او سنت ده چې د جمراتو له ويشتلو وروسته لږ مخکې لاړ شي او جمرات دې ښي خوا ته پرېږدي، او قبلې ته دې مخ واړوي، او لاسونه دې پورته کړي او ډېرې دعاګانې دې وکړي.

بيا دې دريمه جمره وولي او هغې څخه وروسته دې نه تم کېږي.

بيا د تشريق د ورځو په دويمه ورځ له زوال وروسته جمرات بايد وولي، لکه څنګه چې يې په لومړي ورځ ويشتلي وو، او په لومړي او دويمه جمراتو کې دې هم هغه څه وکړي لکه څنګه چې

يې په لومړۍ ورځ کړي وو؛ د پيغمبر صلی اللّٰه عليه وسلم د اقتدا له مخې.

د تشريق په لومړيو دوو ورځو کې د جمراتو ويشتل د حج له واجباتو څخه دي، او په لومړۍ او دويمه شپه کې په منى کې شپه تېرول هم واجب دي، پرته له اوبو وړونکو، شپونکيو (مسوليت لرونکو) او داسې نورو څخه، نو په دوی باندې شپه تېرول واجب نه دي.

بيا، د يادو دوو ورځو د جمراتو له ويشتلو وروسته، څوک چې غواړي له منى څخه په وتلو کې بيړه وکړي، هغه ته دا کار روا دی، او هغه بايد د لمر د لوېدو دمخه ووځي، او دا غوره ده او لوی اجر لري څوک چې ځنډ وکړي او دريمه شپه تېره کړي او په دريمه ورځ جمرات وولي، لکه څنګه چې اللّٰه تعالى فرمايلي دي:

﴿... وَاذْكُرُوا اللهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ لِمَنِ اتَّقَى ﴿٢٠٣﴾﴾ [البقرة: ٢٠٣].

**ژباړه:** «او ياد کړئ اللّٰه تعالى په شمېرل شويو ورځو کې نو هر چا چې بيړه وکړه (په تلو کې له منى څخه مکې ته) په دوو ورځو کې نو نشته هيڅ ګناه پر دغه تلوار کوونکي او هر چا چې تاخير وکړ نو

نشته هېڅ ګناه په ده باندې دا (بې ګناهی) د هغه چا لپاره ده چې پرهيز يې کړی وي (له منهياتو څخه))» (البقرة سورت: ۲۰۳ آيت). ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خلکو ته د بيرې کولو اجازه ورکړې ده، خو په خپله يې بيړه ونه کړه، بلکې هغه په منی کې پاتې شو تر هغه چې د ديارلسمې ورځې له زوال څخه وروسته يې جمرات وويشتل، بيا د ماسپښين له لمانځه څخه مخکې روان شو.

د هغه ماشوم ولي ته جواز لري چې د جمراتو ويشتلو توان نلري، کولی شي چې جمرة العقبة او نور جمرات د هغه په استازيتوب وولي وروسته له دې چې هغه د خپل ځان لپاره جمرات ويشتلي وي، په ورته ډول، د يوې ماشومې انجلۍ که د جمراتو ويشتلو توان نلري، د هغې ولي کولی شي د هغې په استازيتوب جمرات وولي؛ د جابر رضى الله عنه د حديث له مخې، چې وايي:

**ژباړه:** «موږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حج وکړ، او زموږ سره ښځې او ماشومان هم وو، موږ د ماشومانو په استازيتوب تلبيه وويله او د هغوی په استازيتوب مو جمرات وويشتل»[1]. ابن ماجه روايت کړی دی.

(۱) ترمذي په (۹۲۷) شمېره روايت کړی دی.

هغه څوک چې د ناروغۍ، زوړوالي يا اميندوارۍ له امله د جمراتو د ويشتلو توان نلري، کولی شي د هغه په استازيتوب يو څوک د جمراتو د ويشتلو لپاره وټاکي، لکه څنګه چې اللّٰه تعالی فرمايي: ﴿فَاتَّقُوا اللهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ...﴾ [التغابن: ١٦]. ژباړه: «نو تاسو له اللّٰه نه ووېرېږئ څومره چې تاسو کولی شئ» (التغابن سورت: آيت ١٦)، او دا ډول خلک په جمراتو کې د نورو خلکو د ټېلو او ازدحام توان نلري، او د جمراتو ويشتلو وخت به تېر شي او قضا کول يې جواز نلري، نو د نورو مناسکو پر خلاف، د دوی لپاره دا جواز لري چې د خپل ځان لپاره يو څوک د دې ترسره کولو لپاره وټاکي، او د محرم لپاره نه ښايي چې د دې کار ترسره کولو لپاره ځان ته نائب او يا وکيل ونيسي، حتی که د هغه حج نفلي وي؛ ځکه چې څوک چې د حج يا عمرې لپاره احرام وتړي - حتی که دا نفلي هم وي - هغه يې بايد بشپړ کړي؛ لکه څنګه چې اللّٰه تعالی فرمايي: ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ ...﴾ [البقرة: ١٩٦]. ژباړه: «او (پوازې) د اللّٰه لپاره حج او عمره ادا کړئ» (البقرة سورت: ١٩٦ آيت).

د طواف او سعي وخت نه قضا کېږي، د جمراتو د ويشتلو پر خلاف.

مګر په عرفات کې درېدل او په مزدلفه او منی کې د شپې تېرول، په دې کې شک نشته چې د دې وختونه قضا کېږي، لېکن عاجز او ناتوان کسان دې ځایونو کې اعمال ترسره کولی شي، حتی که ستونزې او مشقت سره هم وي، په رمی کې د هغه د حضور پر خلاف، دا ځکه چې نائب او یا وکیل نیول د سلف صالحینو له خوا د هغه چا لپاره تایید شوی دی چې عذر ولري، د نورو کسانو پر خلاف.

اوعبادتونه ټول توقیفي دي، او هېڅ څوک حق نلري چې په هغو کې له ثبوت او دلیل پرته څه شی اضافه کړي، او نائب یا وکیل لپاره دا جواز لري چې د خپل ځان له طرفه او بیا د خپل موکل په استازیتوب درې جمرات وولي، په داسې حال کې چې هغه په یوه ځای کې وي، او د هغه لپاره واجب نه ده چې لومړی د خپل ځان لپاره درې جمرات وولي او بیا بیرته راوګرځي او د خپل موکل په استازیتوب درې جمرات وولي، د علماوو تر ټولو د صحیح نظر له مخې؛ ځکه چې د دې د ثبوت په اړه هېڅ دلیل نشته، او دې کې ستونزه او مشقت دی، او الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ...﴾ [الحج: ٧٨]. ژباړه: «او په تاسو باندې يې په دين کې هېڅ حرج (مشقت) نه دی ايښی» (الحج

سورت: ۷۸ آيت). او نبي صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: **ژباړه:** «(پر خلکو) اسانتيا راولئ او سختي مه کوئ»[۱]. ځکه چې دا د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د صحابه وو څخه نه دی نقل شوی، کله چې دوی د خپلو ماشومانو او معذورانو له خوا جمرات ويشتل، او که دوی دا کار کړی وای، نو دا به نقل شوی وای؛ ځکه چې دا هغه څه دي چې خلک يې د نقل او رسولو لپاره ليواله وو. او اللّٰه ښه پوهېږي.

(۱) بخاري د انس رضي الله عنه د حديث څخه په (٦٩) شمېره روايت کړی دی.

# فصل

# د متمتع او قارن لپاره د دم (د څاروي ذبح کول) د وجوب په اړه

که چېرې حاجی متمتع يا قارن وي -او د مسجد الحرام له اوسېدونکو څخه نه وي، نو هغه باندې دم - د څاروي قرباني - واجبېږي، او دم عبارت دی له: يوه پسه، يا د اوښ اوومه برخه، يا د غوا اوومه برخي څخه. او دا بايد د حلال مال او پاکو عايداتو څخه وي؛ ځکه چې الله تعالی پاک دی او يوازې پاک شيان مني.

او مسلمان لپاره نه ښايي چې د خلکو څخه د قربانۍ د غوښې او نور څه غوښتنه وکړي، که دغه خلک پاچايان وي او يا نور عام خلک وي، تر هغه چې الله تعالی هغه لره توان ورکړي چې له خپل مال څخه ځان ته قرباني وکړي او له هغه څه نه يې بې نيازه کړي چې د خلکو په لاسونو کې دي، د دې وجې نه چې په ډېرو حديثونو کې د سوال کولو بدي او عيب راغلی، او د هغه چا ستاينه يې کړې چې سوال کول پرېږدي.

که چېرې متمتع او يا قارن قرباني نشي کولی، نو هغه بايد د حج په جريان کې درې ورځې او کله چې خپل کورنۍ ته راستون شي اوه ورځې روژه به ونيسي، هغه ته اختيار دی چې درې ورځې

روژه د قربانۍ له ورځې څخه مخکې نيسي، او که يا د تشريق په درې ورځو کې يې ونيسي، الله تعالى فرمايي: ﴿... فَمَنْ تَمَتَّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فِي الْحَجِّ وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ ذَلِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ...﴾ [البقرة: ١٩٦]،

**ژباړه:** «نو چا چې له تاسې څخه له حج نه وړاندې له عمرې څخه ګټه واخيستله (تمتع حج يې وکړ)، هغه دې د خپل وس په اندازه قرباني وکړي، او که (قرباني) يې ونه موندله، نو درې روژې دې په حج کې ونيسي او اوه روژې چې کله (خپل ځای ته) ستانه شئ، دا لس پوره ورځې دي دا (حکم د حج تمتع) د هغه چا لپاره دی چې کورنۍ (ځای يې) په مسجد الحرام کې نه وي». الآية (البقرة سورت: ١٩٦ آيت).

په صحيح البخاري کې، د عائشې او ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی، چې هغوی وويل: **ژباړه:** «د تشريق په ورځو کې روژه نيولو ته اجازه نه ده ورکړل شوې مګر هغه څوک چې قرباني

ونه مومي»[1]، دا د پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم ته د مرفوع حديث په حکم کې دی، نو غوره ده چې د عرفې له ورځې درې ورځې مخکې روژه ونيسي، ترڅو د عرفې په ورځ روژه ماته کړي؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د عرفې په ورځ پرته له روژې څخه وقوف کړی و، او په عرفه کې يې د عرفې په ورځ روژه نيول منع کړي، ځکه چې په دې ورځ روژه نه نيول د ذکر او دعا لپاره ډېر هڅونکي دي، او همدارنګه جائز ده چې ذکر شوي درې ورځې پرله پسې يا جلا روژه ونيول شي، او همدارنګه د اوو ورځو روژه نيولو کې پرله پسې روژه نيول شرط نه دي، نو هغه کولی شي چې پرله پسې او يا جلا جلا يې ونيسي؛ ځکه چې اللّٰه تعالى او د هغه رسول صلى اللّٰه عليه وسلم دا شرط نه دی ايښی چې دا دې په پرله پسې ډول ترسره شي، نو غوره ده چې اووه ورځې روژې وځنډول شي تر هغه چې بېرته خپل ځای ته راوګرځي؛ د اللّٰه تعالى د دې وينا له مخې: ﴿... وَسَبْعَةٍ إِذَا رَجَعْتُمْ ...﴾ [البقرة: ١٩٦]. **ژباړه:** «او اوه روژې چې کله (خپل ځای ته) ستانه شئ» (البقرة سورت: ١٩٦ آيت).

---

(١) بخاري په (١٩٩٨) شميره کې روايت کړی دی.

هغه څوک چې د قربانۍ توان نلري، روژه نيول غوره ده، له دې چې له پاچاهانو او يا نورو خلکو څخه د ځان لپاره د قربانۍ غوښته وکړي، او هغه چا ته چې قرباني يا بل څه ورکړل شي پرته له دې چې هغه يې وغواړي يا يې په لټه کې وي، هيڅ گناه او حرج نشته، حتى که څوک د بل چا لخوا حج کوي، يعني: که چېرې استازي دا شرط نه وي ايښودلی چې هغه بايد د ورکړ شويو پيسو څخه قرباني وکړي، اما هغه څه چې ځينې خلک يې کوي چې د حکومت يا نورو څخه د هغو خلکو په نوم د قربانۍ څخه يو څه وغواړي چې هغه يې په دروغو سره يادوي، په دې کې شک نشته چې دا کار حرام دی؛ ځکه چې دا د دروغو يوه بڼه ده، الله تعالى دې مونږ او ټول مسلمانان له دې څخه وژغوري.

# فصل

# حاجيانو او نورو ته د خير په چارو کې د امر کولو د وجوب په اړه

يو له هغو مهمو دندو څخه چې حاجيان او نور يې بايد ترسره کړي، د نيکۍ امر کول او له بدۍ څخه منع کول دي، او پنځه وخته لمونځونه په جماعت سره ادا کول دي، لکه څنګه چې اللّٰه تعالى په خپل کتاب او د خپل رسول صلى اللّٰه عليه وسلم په ژبه امر کړی دی.

او هغه څه چې د مکې اوسيدونکي او نور ډېرى خلک يې کوي، دا چې په خپلو کورونو کې لمونځ کوي او جوماتونه تعطيلوي، دا يوه لويه تېروتنه ده چې د اسلامي شريعت خلاف دی، د دې کار څخه بايد منع شي، او خلکو ته بايد امر وشي چې په جوماتونو کې لمونځ وکړي؛ ځکه چې د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم څخه ثابته شوې ده چې ابن ام مکتوم له هغه صلى اللّٰه عليه وسلم څخه وغوښتل چې هغه ته اجازه ورکړي ترڅو لمونځونه په خپل کور کې وکړي؛ ځکه چې هغه په سترګو ړوند او کور يې له جومات څخه لرې وو، هغه صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه:

«ايا د لمونځ لپاره اذان اورې؟ هغه وويل: هو، هغه وفرمايل: نو د

اذان اجابت وکړه»[1]. او په بل روايت کې راغلي چې: ژباړه: «ستا لپاره رخصت نه مومم»[2]. او هغه صلی الله عليه وسلم فرمايلي: ژباړه: «ما هوډ وکړ چې د لمانځه د ادا کولو امر وکړم، بيا يو سړي ته امر وکړم چې خلکو ته لمونځ ورکړي، بيا د ځان سره سړي بوځم چې د لرګيو ګيډۍ ورسره وي، او په هغو خلکو کورونه ورسوځوم چې لمانځه ته نه حاضرېږي»[3]. په سنن ابن ماجه او نورو کې، د حسن سند سره، د ابن عباس رضی الله عنه په روايت، چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «چا چې اذان واورېد او له عذر پرته لمانځه ته رانغی نو لمونځ يې نه کېږي»[4]. او په صحيح مسلم کې، د ابن مسعود رضی الله عنه په حواله، چې ويلي يې دي: ژباړه: «څوک چې غواړي سبا ورځ د الله تعالی سره د مسلمان په توګه ملاقات وکړي، نو هغه دې دا لمونځونه په خپل وخت ادا کړي کله چې ورته بلنه ورکړل کېږي، ځکه چې الله تعالی ستاسو پيغمبر

---

(۱) مسلم له ابو هريرة رضي الله عنه څخه په (٦٥٣) شمېره روايت کړی دی.
(۲) ابو داود د عبدالله بن ام مکتوم څخه په (٥٥٢) شمېره روايت کړی دی.
(۳) بخاري په (٢٤٢٠) شمېره، او مسلم په (٦٥١) شمېره روايت کړی دی.
(٤) ابو داود د ابن عباس رضي الله عنهما څخه په (٥٥١) شمېره روايت کړی دی.

ته د هدایت لارې تاکلې دي، او دا د هدایت له لارو څخه دي، نو که تاسو په خپلو کورونو کې لمونځ وکړئ، لکه څنګه چې دا متخلف (چې لمونځ په جماعت نه کوي) سړی په خپل کور کې لمونځ کوي، تاسو به د خپل پیغمبر لاره پرېښې وي، او که تاسو د خپل پیغمبر لاره پرېږدئ، نو تاسو به ګمراه شئ، او هیڅ داسې کوم سړی نشته چې ځان پاک کړي او په ښه توګه طهارت وکړي، بیا له دې جوماتونو څخه یو ته لاړ شي، مګر دا چې الله تعالی به د هر ګام په بدل کې ورته یوه نیکي ولیکي، او یوه درجه به یې لوړه کړي او یوه بدي به یې له منځه یوسي، او موږ نه دي لیدلي چې پرته له ځرګند منافق څخه بل څوک له جماعت څخه تخلف وکړي، او داسې هم شوي چې یو سړی به د دوو کسانو په همکارۍ راوستل شو، ترڅو د جماعت په صف کې ودرول شي»[۱].

حاجیان او غیر حاجیان باید د الله تعالی له منع شویو کارونو څخه ډډه وکړي او محتاط اووسي چې هغه ترسره نه کړي؛ لکه زنا، لواطت، غلا، سود، د یتیمانو مال خوړل، په معاملو کې دوکه کول، په امانت کې خیانت کول، شراب څښل، سیګرټ څکول، د جامو

---

(۱) مسلم په (٦٥٤) شمېره روایت کړی دی.

اورېدول، تکبر، حسد، ځان ښودنه، غيبت، يو بل ته خبرې رسول (چغل خوري)، پر مسلمانانو ملنډې وهل، او د موسيقۍ وسايل کارول؛ لکه ريکارډونه، عود، رباب، او داسې نور، سندرې اورېدل، د راډيو او نورو وسايلو څخه د موسيقۍ اورېدل، په نرد (لهو) لوبې کول، شطرنج، قمار، د ژونديو موجوداتو عکس اخيستل، که هغه انسانان يا نور شيان وي، او په دې څيزونو باندې رضايت ښودل، ځکه چې دا ټول هغه ناوړه شيان دي چې الله پاک خپلو بندګانو باندې په هر وخت او ځای کې منع کړي دي، نو حاجيان او د بيت الله الحرام اوسېدونکي بايد د نورو خلکو په پرتله پدې اړه ډېر محتاط اوسي؛ ځکه چې په دې خوندي او د امن خاوره کې ګناهونه ډېره شديده او سزا يې ډېره لويه ده.

او الله تعالى فرمايلي دي: ﴿...وَمَنْ يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٢٥﴾﴾ [الحج: ٢٥]. ژباړه: «او څوک چې په هغه کې په ظلم سره بې لارېتوب وغواړي، هغه ته به دردناک عذاب وروڅکو» (الحج سورت: ٢٥ آيت). که الله تعالى هر هغه چا ته چې په حرم کې په ظلم سره د بې لارېتوب اراده وکړي د دې سزا وعده کړې، نو د هغه چا لپاره به څه سزا وي چې بالفعل دا کار کوي؟! په دې کې شک نشته چې دا به ډېره لويه او سخته سزا

وي، نو باید له دې او نورو ټولو ګناهونو څخه ځان وساتو.

حاجیان به د حج نیکي او د ګناهونو بخښنه ترلاسه نه کړي مګر دا چې له دې او نورو ګناهونو څخه چې اللّٰه تعالی منع کړي دي ځانونه وساتي، لکه څنګه چې د پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم په حدیث کې راغلي دي، چې فرمایلي یې دي: **ژباړه:** «څوک چې د اللّٰه لپاره حج وکړي، جماع (شهواني عمل) او ګناهونه و نه کړي، نو له حج څخه د راګرځېدو پر مهال به له ګناه څخه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې مور زېږولی وي»(۱).

له دې منکراتو څخه ډېر سخت او لوی: د مړو را بلل دي، د هغوی څخه مرسته غوښتل، او د هغوی لپاره نذر او ذبح کول دي؛ په دې هیله چې مړي به د دعا کوونکو لپاره د اللّٰه تعالی په نزد شفاعت وکړي، او یا به یې ناروغ روغ کړي، یا به یې غیب شوی کس بېرته راولي، او داسې نور.

دا د شرک یو له هغو لویو بڼو څخه دی چې اللّٰه پاک منع کړي دي، او دا د جاهلیت د دورې د مشرکانو دین دی، اللّٰه پاک د

(۱) بخاري په (۱۵۲۱) شمېره، او مسلم په (۱۳۵۰) شمېره له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت کړی دی.

دې د غندلو او منع کولو لپاره پيغمبران او کتابونه رالېږلي دي.

هر فرد، که حاجي وي او يا نه وي، بايد له دې څخه ځان وساتي، او د تېرو پېښو لپاره، که له دې نه مخکې څه پېښ شوي وي، اللّٰه تعالی ته توبه وباسي، او له توبې وروسته دې نوی حج پيل کړي؛ ځکه چې لوی شرک ټول اعمال باطلوي، لکه څنګه چې اللّٰه تعالی فرمايلي دي: ﴿... وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾﴾ [الأنعام: ٨٨]. ژباړه: «او که چېرې هغوی شرک کړی وَی (نو) له هغوی نه به خامخا ضايع شوي وو هغه عملونه چې دوی به کول» (الأنعام سورت: ٨٨ آيت).

د کوچني شرک له جملې څخه؛ د اللّٰه تعالی پرته په بل چا قسم خوړل دي؛ لکه په پيغمبر، کعبې، امانت او داسې نورو باندې قسم خوړل.

او همدارنګه د هغې له جملې: ريا او ځان ښودنه ده، او د دې عبارتونو ويل چې: "څه چې اللّٰه او ته وغواړې،" او "که اللّٰه او ته نه وای،" او "دا د اللّٰه او ستا له خوا دی،" او دې ته ورته نور عبارتونه.

موږ بايد له دې مشرکانه منکراتو څخه ځان وساتو او يو بل ته يې د پرېښودو نصيحت وکړو؛ ځکه چې له رسول اللّٰه صلی اللّٰه

عليه وسلم څخه ثابت دي چې فرمايلي يې دي: **ژباړه:** «څوک چې له اللّٰه پرته په بل چا قسم وخوري هغه کفر او يا شرک وکړ»[1]. دا حديث احمد، ابوداود او ترمذي په صحيح سند سره روايت کړی دی.

او په صحيح حديث کې له عمر رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی وايي: رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: **ژباړه:** «که څوک غواړي چې قسم وکړي، نو په اللّٰه دې قسم وکړي يا دې چپ پاتې شي»[2]. او همدارنګه رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: **ژباړه:** «چا چې په امانت قسم وکړ؛ هغه زمونږ له ډلې څخه نه دی»[3]. ابو داود روايت کړی دی.

او همدا رنګه رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: **ژباړه:** «تر ټولو زيات وېروونکی شی چې زه د هغه په اړه پرتاسو ډارېږم هغه کوچنی شرک دی، نو د هغه په اړه پوښتنه ترې وشوه؟

(۱) ابو داود په (۳۲۵۱) شمېره روايت کړی دی.

(۲) بخاري د عبدالله څخه په (۲۶۷۹) شمېره، او مسلم په (۱٦٤٦) شمېره روايت کړی دی.

(۳) ابو داود په (۳۲۵۳) شمېره روايت کړی دی.

هغه وفرمايل: رياء (ځان ښوونه)»[١]. او هغه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي: ژباړه: «داسې مه وايئ چې: څه چې اللّٰه او فلانى وغواړي هغه کېږي، بلکې ووايئ: څه چې اللّٰه وغواړي او بيا يې فلانى وغواړي هغه کېږي»[٢]. نسائي له ابن عباس رضي اللّٰه عنهما څخه روايت کوي چې يو کس ووېل: اې د اللّٰه رسوله! هرڅه چې اللّٰه او ته وغواړې، هغه وفرمايل: ژباړه: «آيا تا زه د اللّٰه لپاره سيال وګرځولم؟ څه چې يوازې اللّٰه وغواړي»[٣].

دا حديثونه د پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم د توحيد ساتنې، د لوى او کوچني شرک په وړاندې د هغه د قوم خبردارى، او د دوى د ايمان د خونديتوب او د اللّٰه تعالى له عذاب او د هغه د عذاب او غضب له لاملونو څخه د دوى د خلاصون لپاره د هغه انديښنه په ګوته کوي. نو اللّٰه تعالى دې هغه ته د دې لپاره غوره اجر ورکړي، په رښتيا چې هغه صلى اللّٰه عليه وسلم پيغام ورساوه، او خبرداری يې ورکړ، او د اللّٰه لپاره يې د هغه بندګانو ته نصيحت وکړ، وَصَلَّى

---

(١) احمد په خپل مسند (٥/٤٢٨) کې روايت کړی دی.

(٢) ابو داود په (٤٩٨٠) شمېره روايت کړی دی.

(٣) ابن ماجه په (٢١١٧) شمېره روايت کړی دی.

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلاَةً وَسَلاَمًا دَائِمَيْنِ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ.

دا د اهل علم حاجيانو او د اللّٰه تعالى بلد الأمين او د رسول كريم عليه الصلاة والتسليم په مدينه كې مقيم خلكو باندې واجب دي چې خلكو ته هغه څه ورزده كړي چې اللّٰه تعالى د دوى لپاره ټاكلي دي، او د هغو شرک او گناهونو په اړه چې اللّٰه تعالى منع كړي دي، هغوى ته خبرداری وركړي، او خپل نصيحت دې په روښانو او واضحو دلايلو وړاندې كړي: ترڅو خلک د تيارو څخه رڼا ته راوباسي، او هغه امانت ترسره كړي چې اللّٰه تعالى د هغه په ابلاغ او بيانولو مكلف كړي دي. اللّٰه تعالى فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ ...﴾ [آل عمران: ١٨٧]. ژباړه: «او كله چې اللّٰه له هغو خلكو پوخ لوظ واخيست چې كتاب وركړ شوی و، چې خامخا به يې نورو خلكو ته بيانوئ او پټوئ به يې نه» (آل عمران سورت: ١٨٧ آيت).

د دې هدف دا دی چې: د دې امت علماوو ته خبرداری وركړل شي چې د حق پټولو لپاره د اهل كتابو د ظالمانو لاره تعقيب نه كړي؛ او دا چې د راتلونكي په مقابل كې نړۍ ته ترجيح وركړي، اللّٰه تعالى فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ

الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللَّاعِنُونَ ﴿١٥٩﴾ إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا فَأُولَئِكَ أَتُوبُ عَلَيْهِمْ وَأَنَا التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٦٠﴾ [البقرة: ١٥٩ – ١٦٠]. **ژباړه:** «يقيناً کوم خلق چې هغه څه پټوي چې مونږ نازل کړي دي، چې هدايت او ښکاره دليلونه دي، له دې نه پس چې مونږ هغه په کتاب کې خلقو ته بيان کړې دي، دغه خلق (چې دي)، الله پر دوی لعنت کوي اولعنت ويونکي پر دوی لعنت وايي* مگر هغه کسان چې توبه وباسي او (د ځان) اصلاح وکړي او (د حق) بيان وکړي، پس دغه کسان، زه د هغوی توبه قبلوم او زه ښه توبه قبلوونکی، بې حده رحم کوونکی يم» (البقرة سورت: ١٥٩ – ١٦٠ آيتونه). قرآني آيتونه او نبوي احاديث په دې باندې دلالت کوي چې د الله تعالی لوري ته دعوت او بلنه ورکول او د هغه څه په لور بندګانو ته لارښوونه کول چې د هغه لپاره پيدا شوي دي د غوره عبادتونو او مهمو دندو څخه يو دي، او دا تر قيامت پورې د رسولانو او د هغو د پيروانانو لاره ده، لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ وَعَمِلَ صَالِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾ [فصلت: ٣٣]. **ژباړه:** «او د خبرې په

لحاظ له هغه چا نه ښوك ډېر ښه دی چې اللّٰه ته بلنه کوي او نېك عمل کوئ او وايي چې بېشکه زه له مسلمانانو څخه يم» (فصلت سورت: ۳۳ آيت)، او اللّٰه تعالی فرمايلي: ﴿قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللّٰهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ ۝١٠٨﴾ [يوسف: ۱۰۸]. ژباړه: «ته ووايه: دا زما لاره ده، د اللّٰه په طرف بلنه کوم، په ښه بيان او بصيرت سره، زه او هغه څوك چې زما پيروي کوي، او اللّٰه پاكي ده اللّٰه لره، او زه له شرك کوونکو څخه نه يم» (يوسف سورت: ۱۰۸ آيت).

او نبي صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: «چا چې د خير کار راهنمايي وکړه نو دي لره د هغه خير کار د کوونکي په شان ثواب دی»[۱]. مسلم په خپل صحيح کې روايت کړی دی، او علي رضي اللّٰه عنه ته يې وفرمايل: ژباړه: «قسم په اللّٰه که چېرته ستا له امله اللّٰه يو سړي ته سمه لار وښيي دا درته له سرو اوښانو غوره ده»[۲]. د دې حديث پر صحت اتفاق شوی دی. او په دې معنا سره ډېر آيتونه او احاديث راغلي دي.

(۱) مسلم په (۱۸۹۳) شمېره روايت کړی دی.

(۲) بخاري په (۳۰۰۹) شمېره، او مسلم په (۲٤۰٦) شمېره روايت کړی دی.

د پوهې او ايمان خاوندانو ته لازمه ده چې خپلې هڅې څو چنده کړي ترڅو د الله تعالى لوري ته دعوت او بلنه ورکړي، او بندګانو ته د نجات د لارې لارښوونه وکړي، او د هلاکت د لاملونو په وړاندې خبرداری ورکړي، په ځانګړې توګه په دې زمانه کې چې خواهشات غالب شوي دي، ويجاړونکي اساسات او ګمراه کوونکي شعارونه خپاره شوي دي، او د لارښوونې پلويان او دعوتګران لږ شوي دي او د الحاد او اباحيت پلويان او دعوتګران ډېر شوي دي. موږ له الله تعالى څخه مرسته غواړو، او له لوی او قادر الله پرته بل هيڅ ځواک او قوت نشته.

# فصل

# د طاعاتو د توښې اخيستلو مستحب والی

حاجيانو لپاره مستحب دي چې په مکه کې د خپلې استوګنې په اوږدو کې د الله تعالی ذکر، اطاعت، او نيک اعمال وکړي، او خپل لمونځونه او د بيت الله طواف زيات کړي؛ ځکه چې په حرم شريف کې نيک عملونه څو چنده حسابېږي، او همدارنګه په حرم شريف کې بد عملونه ډېره لويه او سخته (ګناه) ده (نسبت له نورو ځايونو څخه)، همدارنګه هغوی لپاره مستحب ده چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ډېر درود ووايي.

کله چې حاجيان وغواړي چې له مکې څخه ووځي، نو بايد د بيت الله طواف (طواف الوداع) دې وکړي؛ ترڅو چې د بيت الله طواف د هغوی آخري عمل وي چې تر سره کوي يې، پرته له هغو حيض او نفاس لرونکو ښځو څخه چې د هغوی لپاره طواف الوداع نشته؛ د ابن عباس رضی الله عنهما د حديث له مخې، چې وايي: **ژباړه:** «هغه خلکو ته امر وکړ چې د هغوی آخري عمل بايد د بيت الله سره وي، پرته له حيض لرونکو ښځو څخه چې هغوی ته

يې تخفيف وکړ»[١]. د دې حديث پر صحت اتفاق شوی دی.

کله چې هغه طواف الوداع پای ته ورساوه او وغواړي چې له مسجد څخه ووځي، نو بايد په خپله لاره او مخامخ دې روان شي تر څو چې ووځي، او دا هغه ته نه ښايي چې په شا تګ وکړي؛ ځکه چې دا نه له رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه نقل شوی او نه هم د هغه له صحابه وو څخه، بلکې دا يو جوړ شوی بدعت دی، او رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: ژباړه: «که څوک کوم کار وکړي او زمونږ د دين امر ورباندې نه وي نو هغه مردود دی»[٢]. او هغه صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايلي: ژباړه: «او (په دين کې له نوښت څخه) ځان وساتئ؛ يقينا چې (په دين کې هر نوښت راوستل) بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده»[٣].

د اللّٰه تعالی څخه د هغه په دين کې د ثبات او له هغه څه څخه د خونديتوب غوښتنه کوو چې د هغه د دين خلاف دي، ځکه چې هغه سخي او مهربان ذات دی.

---

(١) بخاري په (١٧٥٥) شمېره، او مسلم په (١٣٢٨) شمېره روايت کړی دی.

(٢) ددی روايت تخريج مخکې تېر شوی دی.

(٣) مسلم د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه په (٨٦٧) شمېره روايت کړی دی.

# فصل

## د زيارت احکام او آداب يې

د حج څخه مخکې يا وروسته د نبي صلى اللّٰه عليه وسلم د جومات زيارت سنت دى؛ د ابو هريره رضى اللّٰه عنه په روايت سره په صحيحينو کې راغلي دي چې، هغه وويل: رسول صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «زما پدې جومات کې يو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دى پرته له مسجد الحرام (بيت اللّٰه) څخه»[1]. او له ابن عمر رضي اللّٰه عنهما څخه روايت دى چې پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي: ژباړه: «زما پدې جومات کې يو لمونځ په نورو جوماتونو کې له زرو لمونځونو څخه غوره دى پرته له مسجد الحرام (بيت اللّٰه) څخه»[2]. مسلم روايت کړی، له عبداللّٰه بن مسعود رضي اللّٰه عنه څخه روايت دى چې وايي: رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي: ژباړه: «زما په دې جومات کې يو لمونځ د مسجد الحرام پرته په بل هر جومات کې د زرو لمونځونو څخه غوره دى، او په مسجد الحرام کې يو لمونځ زما

(١) بخاري په (١١٩٠) شمېره، او مسلم په (١٣٩٤) شمېره روايت کړی دی.

(٢) مسلم په (١٣٩٥) شمېره روايت کړی دی.

د دې جومات د سلو لمونځونو څخه غوره دی»[(١)]. احمد، ابن خزيمه او ابن حبان روايت کړی دی.

له جابر رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «زما په دې جومات کې يو لمونځ د بل هر جومات له زرو لمونځونو څخه غوره دی، پرته له مسجد حرام څخه، او په مسجد حرام کې يو لمونځ د بل هر جومات له سل زره لمونځونو څخه غوره دی»[(٢)]. احمد او ابن ماجه روايت کړی دی، او په دې معنا سره ډېره حديثونه شته.

کله چې زيارت کوونکی جومات ته ورسېږي، نو مستحب ده چې د ننوتلو پر مهال خپله ښي پښه مخکې کړي او ووايي: (بِسْمِ اللّٰهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ، أَعُوْذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيْمِ مِنْ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ، اللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ). ژباړه: «د اللّٰه په نوم، او د اللّٰه په رسول باندې دې درود او سلام وي، په لوی اللّٰه، د هغه په عزتمن مخ او قديم سلطنت له رټلی شوي شيطان څخه پناه نيسم، اې اللّٰه، زما لپاره د خپل د

(١) احمد په خپل مسند (٥/٤) روايت کړی دی.

(٢) ابن ماجه په (١٤٠٦) شمېره روايت کړی دی.

رحمت دروازې پرانیزه»[1].

لکه څرنګه چې دغه دعا په نورو ټولو جوماتونو کې د ننوتلو پر مهال ویل کیږي، او د هغه صلی اللّٰه علیه وسلم جومات ته د ننوتلو لپاره کومه ځانګړې ذکر نشته، بیا به دوه رکعته لمونځ وکړي او په هغو کې له اللّٰه څخه د هغه څه لپاره دعا او غوښتنه کوي چې د دنیا او آخرت خیر په کې وي، که دغه دوه رکعته لمونځ په روضه شریفه کې وکړي، نو دا غوره ده؛ د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د قول پر اساس چې فرمايي: **ژباړه:** «زما د کور او منبر ترمنځ د جنت د باغچو څخه یوه باغچه ده»[2]. بیا، د لمانځه وروسته، د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم او د هغه د دوو ملګرو (ابوبکر او عمر رضی اللّٰه عنهما)، د قبرونو زیارت به وکړي، د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د قبر مخامخ به په ادب او ټیټ غږ سره ودریږي او سلام به وکړي او ودې وايي: (السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ)، لکه څرنګه چې په سنن ابي داود کې په حسن سند

(۱) مسلم په (۷۱۳) شمېره روایت کړی دی.

(۲) بخاري د عبدالله بن زيد المازني څخه په (۱۱۹۵) شمېره، او مسلم په (۱۳۹۰) شمېره روایت کړی دی.

سره، د ابو هريره رضى اللّٰه عنه په روايت، چې هغه وويل: رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «هېڅوک پر ما سلام نه اچوي مگر دا چې اللّٰه تعالى ماته زما روح راگرځوي چې زه ورته ځواب ورکړم»[1]. كه زيارت كوونكى د سلام پر مهال ووايي: (السَّلامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه، السَّلامُ عَلَيْكَ يَا خِيْرَةَ اللّٰهِ مِنْ خَلْقِهِ، السَّلامُ عَلَيْكَ يَا سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَإِمَامَ الْمُتَّقِيْنَ، أَشْهَدُ أَنَّكَ قَدْ بَلَّغْتَ الرِّسَالَةَ وَأَدَّيْتَ الْأَمَانَةَ وَنَصَحْتَ الْأُمَّةَ وَجَاهَدْتَ فِيْ اللّٰهِ حَقَّ جِهَادِهِ)، كومه ستونزه نشته، ځكه چې دا ټول د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم له صفتونو او فضيلتونو څخه دي، او هغه صلى اللّٰه عليه وسلم باندې دې درود ووايي او دعا دې ورته وكړي؛ ځكه چې په شريعت كې دا شرعى حكم دى چې د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم لپاره دعا او درود يوځاى كول جائز دي؛ د اللّٰه تعالى د دې وينا د عملي كولو له مخې: ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٥٦﴾﴾ [الأحزاب: ٥٦]. ژباړه: «بېشكه اللّٰه او د هغه ملايك په نبي درود وايي، اى هغو

(١) ابو داود په (٢٠٤١) شمېره روايت كړى دى.

کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل» (الأحزاب سورت: ٥٦ آيت)، بيا به ابو بکر او عمر رضی اللّٰه عنهما ته سلام وکړي، او د هغوی لپاره دې دعا وکړي او له اللّٰه تعالی څخه دې وغواړي چې له دوی څخه راضي شي.

کله چې ابن عمر رضی اللّٰه عنهما به رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم او د هغه دوو ملګرو ته سلام کاوه، نو معمولاً به يې له دې څخه زيات نه ويل: **ژباړه:** «سلام دې وي پر تا، اې د اللّٰه رسوله، سلام دې وي پر تا، اې ابو بکره، سلام دې وي پر تا، اې زما پلار جانه!»[1] بيا به روان شو.

دا زيارت يوازې د نارينه وو لپاره په ځانګړې ډول جواز لري، اما د ښځو لپاره د هيڅ قبر زيارت کول جواز نلري، لکه څنګه چې د پيغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم څخه ثابت شوي چې: **ژباړه:** «لعنت دې وي پر هغو ښځو چې قبرونو ته ځي او پر قبرونو باندې جوماتونه او څراغونه جوړوي»[2].

---

(١) ابو داود په شمېره (٢٠٤١) روايت کړی دی.

(٢) ابو داود په شمېره (٣٢٣٦) شمېره روايت کړی دی.

اما مدينې ته تګ ترڅو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په جومات کې لمونځ وکړي، او هلته دعا وکړي، او همداسې نور شيان چې په ټولو جوماتونو کې مشروع دي، دا د هرچا لپاره مشروع دي؛ د هغو احاديثو پر بنياد چې مخکې ذکر شوي دي.

د زيارت کوونکي لپاره سنت ده چې پنځه وخته لمونځونه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په جومات کې وکړي، او هلته دې ذکر، دعا او نفلي لمونځونه ډېرې وکړي؛ ترڅو د لوی اجر له فرصت څخه ګټه پورته کړي.

په روضه شريفه کې ډېر نفلي لمونځونه کول مستحب دي؛ د کوم فضيلت له مخې چې مخکې صحيح حديث کې ذکر شو، کوم چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده: **ژباړه:** «زما د کور او منبر ترمنځ د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده»(۱).

اما د فرض لمانځه لپاره؛ زيارت کوونکی او نور بايد مخکې لاړ شي، او څومره چې امکان ولري لومړی صف دې وساتي، حتی که هغه په مخکينۍ نوې ابادۍ کې هم وي ؛ ځکه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په صحيحو احاديثو کې راغلي دي چې د

(۱) ددی راويت تخريج مخکې تېر شوی دی.

لومړی صف لپاره يې هڅونه او ترغيب کولو، لکه څنګه چې هغه صلى اللّٰه عليه وسلم په دې حديث کې فرمايي: ژباړه: «که خلک د اذان او د لومړي صف په فضيلت او اجر پوه شي، او د دې فضيلت او اجر د ترلاسه کولو لپاره بله لاره نه وي بغير د پچه اچوني څخه، نو دوی به پچه اچونه کړې وی»[1]. متفق عليه، او لکه څنګه چې هغه صلى اللّٰه عليه وسلم خپلو اصحابو ته وفرمايل: ژباړه: «مخکې راشئ او ما پسې اقتدا وکړئ، او هغه کسان چې ستاسو شاته دي هغوی دې تاسو ته نږدې شي او ستاسو تر شا دې ودرېږي. ځينې د تل لپاره (په صفونو کې) وروسته ودرېږي تر هغه چې اللّٰه تعالى دوی (له خپل رحمت څخه يا د ښو کارونو له غوښتنې او تمې څخه) وروسته کړي»[2]. مسلم روايت کړی دی.

ابو داود د عائشې رضی اللّٰه عنها په روايت سره په حسن سند سره روايت کړی چې پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «يو سړی به تل د مخکني صف څخه وروسته پاتې کېږي تر

---

(١) بخاري په (٦١٥) شمېره، او مسلم په (٤٣٧) شمېره روايت کړی دی.

(٢) مسلم د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه په (٤٣٨) شمېره کې روايت کړی دی.

هغه چې الله يې په اور کې وروسته پاتې کړي»[1]. او د هغه صلی الله عليه وسلم څخه ثابت دی چې خپلو اصحابو ته يې وفرمايل:

ژباړه: «ايا داسې صف نه جوړوئ څنګه چې ملايکې د خپل رب پر وړاندې صف جوړوي؟ هغوی وويل: اې د الله رسوله، ملائکې د خپل رب په وړاندې څنګه صفونه جوړوي؟! هغه وفرمايل: هغوی لومړني صفونه بشپړوي، او په صف کې سره نږدې ودرېږي»[2].

مسلم روايت کړی.

په دې معنی سره ډېر حديثونه شته، او دا د هغه صلی الله عليه وسلم جومات او نورو جوماتونو لپاره عام دی، مخکې او وروسته له زيادت څخه، دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه ثابت شوي دي، چې هغه به خپل صحابه کرام د صفونو ښي خوا ته هخول، او دا معلومه خبره ده چې د هغه په جومات کې د لومړي صف ښي خوا د روضې څخه بهر دی، نو له دې څخه دا معلومه شوه چې د لومړيو صفونو، او د صفونو ښي خوا، روضې شريفې

---

(۱) ابو داود په (۶۷۹) شمېره روايت کړی دی، چې لفظ يې دا دی: «لا يزال قوم يتأخرون عن الصف الأول حتى يؤخرهم الله في النار».

(۲) مسلم د جابر بن سمرة په (۴۳۰) شمېره روايت کړی دی.

باندې په پاملرنه کې لومړيتوب لري، او دا چې د لومړيو صفونو ښي خوا تا پاملرنه کول په روضې کې تر لمونځ کولو اولويت لري، او دا روښانه او څرگنده ده د هغه چا لپاره چې په دې باب کې ذکر شوي حديثونه کې تأمل او فکر و کړي. اللّٰه توفيق ورکوونکی دی.

او هيڅوک اجازه نه لري چې حجره لمس او يا يې ښکل کړي، يا يې طواف وکړي؛ ځکه چې دا له سلف صالحو څخه نه دی نقل شوی، بلکې دا يو منکر بدعت دی.

او هېچ چا لپاره دا جواز نه لري چې له رسول اللّٰه صلی اللّٰه عليه وسلم څخه د حاجت او اړتيا پوره کولو، د سختيو لرې کولو، ناروغ ته شفا ورکول، او داسې نورو شيانو غوښتنه وکړي؛ ځکه چې دا ټول شيان يوازې له اللّٰه تعالی څخه غوښتل کېږي، او له مړو څخه يې غوښتل د اللّٰه تعالی سره شريک نيول او له هغه پرته د بل چا عبادت کول دي، د اسلام دين په دوو اصولو ولاړ دی:

**يو له هغو څخه:** دا چې د اللّٰه تعالی پرته د بل چا عبادت ونه شي.

**دويم:** دا چې د هغه عبادت و نه شي مگر په هغه څه چې اللّٰه تعالی او رسول صلی اللّٰه عليه وسلم شرع (روا) کړي وي.

دا د لا إله إلا اللّٰه، وأن محمدا رسول اللّٰه، د شهادت معنی ده

چې: له الله پرته (په حقه) بل معبود نشته او محمد د الله رسول دی.

او همدارنګه، هېڅ لپاره جواز نه لري چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د شفاعت غوښتنه وکړي، ځکه چې دا د الله تعالی په واک کې دی، نو باید یوازې له هغه څخه وغوښتل شي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿قُل لِلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا...﴾ [الزمر: ٤٤]. ژباړه: «ورته ووایه چې سپارښت ټول د الله په واک کې دی» (الزمر سورت: ٤٤ آیت).

نو ته ویلی شي چې: "اې الله، زما باره کې د خپل پیغمبر شفاعت قبول کړه، اې الله زما باره کې د خپلو ملایکو او مومنو بندګانو لپاره شفاعت قبول کړه، اې الله، زما باره کې زما نا بالغ مړه شوي ماشومان سپارش کوونکي کړه"، او داسې نور. اما د مړو څخه هیڅ شی نه غوښتل کېږي، نه شفاعت او نه بل څه، که هغوی پیغمبران وي او یا بل څوک وي؛ ځکه چې دا روا نه ده، او دا ځکه چې د مړ شوي کس عملونه قطع شوي دي، پرته له هغو کسانو چې د شریعت څښتن مستثنی کړي دي.

په صحیح مسلم کې له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت

دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: ژباړه: «کله چې بني آدم مړ شي، نو د هغه عملونه قطع کېږي، پرته له دريو شيانو: صدقه جاريه، ګټور علم، او صالح اولاد چې د هغه لپاره دعا کوي»(١).

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د شفاعت غوښتنه د هغه په ژوندون او د قيامت په ورځ جائز دی، څکه چې وړتيا يې لري، نو هغه کولی شي خپل رب ته وړاندې شي او د غوښتونکي لپاره سوال وکړي، لېکن په دنيا کې، دا خو معلومه خبره ده، او دا د هغه لپاره ځانګړې نه ده، بلکې دا د هغه او نورو لپاره عام ده، نو مسلمان لپاره جواز لري چې خپل ورور ته ووايي: زما لپاره رب ته د دې او د دې شفاعت وکړه، په دې معنا چې: زما لپاره له الله څخه دعا وغواړه، هغه څوک چې دا ورته ويل کېږي کولی شي له الله څخه وغواړي او د خپل ورور لپاره شفاعت وکړي که چېرته غوښتل شوی څيز هغه څه وي چې الله تعالی يې غوښتل مباح ګرځولی وي.

او د قيامت په ورځ به هېڅ څوک د الله تعالی له اجازې پرته

(١) مسلم له ابو هريرة رضي الله عنه څخه په (١٦٣١) شمېره روايت کړی دی.

د شفاعت کولو اجازه ونلري، لکه څنګه چې الله تعالى فرمايلي دي: ﴿... مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ ...﴾ [البقرة: ٢٥٥].

ژباړه: «څوک دى چې د هغه له اجازې پرته د هغه پر وړاندې سپارښتنه وکړي» (البقرة سورت: ٢٥٥ آيت) .

د مړينې حالت يو ځانګړى حالت دى، چې د انسان د مرګ څخه مخکې او پس له مرګه د بياژوندي کېدو او حشر ميدان ته حاضرېدلو حالتونو سره يوځاى کول جواز نه لري، ځکه چې د مړي عمل قطع شوى دى او هغه يوازې د خپل حياتي ګټو (ثوابونو) پورې تړلى دى، مګر هغه څه چې شريعت استثنا کړي وي، د مړو څخه د شفاعت غوښتنه د شريعت له خوا استثنا شوې نه دى، نو د دې عمل هغو پورې تړل جائز نه دي، په دې اړه هيڅ شک نشته چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مړينې وروسته يو برزخي ژوند (د قبر او قيامت ترمنځ ژوند) لري چې د شهيدانو د ژوند څخه ډېر کامل دى، خو دا ژوند د هغه د دنيوي ژوند او د قيامت د ژوند سره ورته نه دى، بلکې دا يو ځانګړى ژوند دى چې حقيقت او کيفيت يې يوازې الله سبحانه و تعالى ته معلوم دى، په دې اساس، په تېر شوي حديث شريف کې رسول الله صلى الله

عليه وسلم فرمايي: ژباړه: «هېڅ څوک پر ما سلام نه اچوي مګر دا چې الله تعالى ماته زما روح راګرځوي چې زه ورته ځواب ورکړم»[1].

نو دا په دې دلالت کوي چې هغه مړ دى، او روح يې له بدنه وتلى دى، مګر کله چې هغه ته سلام وشي نو بېرته ځواب ورکوي، او هغه نصوص چې د هغه صلى الله عليه وسلم په مړيني باندې دلالت کوي، له قرآن او سنت څخه معلومېږي، او دا هغه موضوع ده چې د پوهانو ترمنځ پرې اتفاق شوى دى، مګر دا د هغه د برزخي ژوند مانع نه ګرځي، لکه څنګه چې د شهيدانو د برزخي ژوند مانع نه ګرځي، کوم چې د الله تعالى په دې قول کې ذکر شوي دي: ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ١٦٩﴾ [آل عمران: ١٦٩]. **ژباړه:** «او د الله په لاره کې پر وژل شويو کسانو باندې هېڅکله د مړيو ګمان مه کوه، بلکې (هغوى) ژوندي دي، د خپل رب په نزد هغوى ته رزق ورکول کېږي» (آل عمران سورت: ١٦٩ آيت).

موږ په دې مسئله کې تفصيلي بحث د دې لپاره وکړ چې اړتيا

(١) ددى روايت تخريج مخکې تېر شوى دى.

يې وه، ځکه چې د خلکو ډېرى شمېر په دې مسأله کې شبهې کې واقع کېږي، چې شرک او د مړو عبادت ته بلنه ورکوي. له الله تعالى څخه غواړو چې موږ او ټول مسلمانان له هر هغه څه څخه خوندي وساتي چې د هغه له شريعت سره په ټکر کې وي، او الله ښه پوهېږي.

او دا چې ځينې زائرين د هغه صلى الله عليه وسلم د قبر ترڅنګ غږ پورته کوي، او هلته د اوږدې مودې لپاره ولاړ وي، دا د مشروع عمل خلاف دي؛ ځکه چې الله تعالى امت منع کړى دى له دې چې خپل اوازونه د نبي له اواز څخه پورته کړي، او يا ده ته په اوچت اواز خبره وکړي، لکه دوى چې يو بل ته آواز اوچتوي، او هغوى يې هڅولي چې د هغه په حضور کې خپل اوازونه ټيټ کړي، د الله تعالى په دې قول سره: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ۝٢ إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَى لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ۝٣﴾ [الحجرات: ٢ – ٣].

ژباړه: «اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو خپل

اوازونه د نبي د اواز له پاسه مه پورته کوئ، او مه ده ته په اوچت اواز خبره کوئ، لکه ستاسو د ځينو له ځينو نورو سره د اواز اوچتولو په شان، له دې وجې چې ستاسو عملونه به برباد شي او تاسو به پوه نه وئ * بېشکه هغه کسان چې د اللّٰه د رسول په وړاندې خپل اوازونه ټيټوي ؛ دغه هغه کسان دي چې اللّٰه د دوی زړونه د تقویٰ (او پرهېزګارۍ) لپاره ازمايلي دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر لوی اجر دی» (الحجرات سورت: ۲ – ۳ آيتونه).

ځکه چې د هغه صلی اللّٰه عليه وسلم قبر ته نېږدې د اوږدې مودې لپاره ودرېدل او د سلام تکرارول، د هغه صلی اللّٰه عليه وسلم پر قبر ګڼه ګوڼه، شور او لوړ اوازونه رامينځته کوي، او دا د هغه څه سره خلاف دي چې اللّٰه تعالی په دې پرېکنده آيتونو کې د مسلمانانو لپاره ټاکلي دي، او هغه صلی اللّٰه عليه وسلم په ژوندون او له مرګ څخه وروسته محترم دی، نو دا يو مومن ته مناسبه نه ده چې د هغه صلی اللّٰه عليه وسلم پر قبر داسې کار وکړي چې د شريعت له ادابو خلاف وي.

او همدارنګه، هغه څه چې ځينې زائرين او نور يې کوي، چې د هغه صلی اللّٰه عليه وسلم قبر سره نېږدې د دعا کولو کوښښ کوي، قبر ته مخ اړوي او لاسونه پورته کوي، او دعا کوي، دا ټول

هغه څه دي چې د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د اصحابو سلف صالح او د هغوی د پيروانو خلاف عمل دی، بلکې دا د نوي جوړ شويو نوښتونو او بدعتونو څخه دي، او پيغمبر اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: **ژباړه:** «تاسې زما او د هدايت موندونکو راشدينو خلفاوو په سنتو کلکې منګولې ولګوئ، د ژامې غاښونه پرې کلک کړئ او په دين کې له نويو طريقو راوېستلو څخه ځان وساتئ، ځکه چې (په دين کې) هر نوښت بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده»[1]. ابو داود او نسائي په حسن اسناد سره روايت کړی دی.

او هغه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي: **ژباړه:** «چا چې زموږ په دين کې نوي شيان را پيدا کړل چې له هغې څخه نه وي، هغه مردود دي»[2]. بخاري او مسلم روايت کړی دی، او د مسلم په بل روايت کې: **ژباړه:** «که څوک کوم کار وکړي او زمونږ د دين امر

---

(۱) ابو داود د العرباض بن سارية د حديث څخه په (٤٦٠٧) شمېره روايت کړی دی.

(۲) ددی ورايت تخريج مخکې تېر شوی دی.

ورباندې نه وي نو هغه مردود دی»[١].

علي بن الحسين زين العابدين رضي اللّٰه عنه يو سړی وليد چې د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم په قبر دعا کوي، نو هغه يې له دې کار څخه منع کړ او ويې ويل: ايا زه تاسو ته هغه حديث ونه وايم چې ما له خپل پلار خپل نيکه څخه اورېدلی دي، له رسول صلى اللّٰه عليه وسلم څخه روايت دی چې فرمايي: **ژباړه:** «زما قبر عيد (د مېلې ځای) مه ګرځوئ، او مه مو کورونه قبرونه جوړوئ، او پر ما درود ووایاست؛ ځکه ستاسو درود ماته رسيږي هر چېرې چې ياست»[٢]. حافظ محمد بن عبدالواحد المقدسي په خپل کتاب (الأحاديث المختارة) کې روايت کړی دی.

او همدارنګه هغه څه چې ځينې زائرين پر رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم باندې د سلام کولو پر مهال يې کوي چې خپل ښي لاس د چپ لاس په سر، او بيا يې د سينې څخه پورته يا لاندې کېږدي، لکه د لمونځ کوونکي په څېر، نو په دې شکل پر رسول اللّٰه

(١) ددی ورايت تخريج مخکې تېر شوی دی.

(٢) د زين العابدين روايت چې شيخ حافظ المقدسي ته يې منسوب کړی، او حديث يې احمد په المسند (٣٦٧/٢) کې له کيسې پرته نقل کړی.

صلى الله عليه وسلم باندې سلام کول جواز نه لري، او نه هم کله چې نورو پاچاهانو، مشرانو او نورو ته سلام کوو؛ ځکه چې دا د ذلت، تسليمۍ او عبادت يوه بڼه ده چې يوازې الله تعالى لپاره ښايي، لکه څنګه چې حافظ ابن حجر رحمه الله په الفتح کې د علماوو په حواله روايت کړی دی، او دا موضوع د هغه چا لپاره روښانه او واضحه ده چې د مقام په اړه فکر وکړي او هدف يې د سلف صالحو د لارښوونو تعقيبول وي.

او هغه څوک چې تعصب، خواهشات، ړوند تقليد او بد ګمانونه ورباندې غالب شي او د سلف صالحو د لارښوونو دعوتګرانو باندې بد ګمان ولري، نو د هغه موضوع الله ته وسپارل شي، او موږ له الله څخه د ځان او د هغه لپاره د لارښوونې او برياليتوب غوښتنه کوو، ترڅو حق ته پر هر څه لومړيتوب ورکړو، ځکه چې هغه تعالى تر ټولو غوره مسؤل دی.

او دا هغه څه چې ځينې خلک يې له لرې څخه د شريف قبر لوري ته مخ ګرځوي او په سلام يا دعا کولو سره خپلې شونډې خوځوي، دا ټول د هغو بدعتونو په څېر دي چې له هغه څخه مخکې شوي وو، او مسلمان ته نه ښايي چې په خپل دين کې هغه څه نوي کړي چې الله تعالى يې اجازه نه وي ورکړې، او په دې

عمل سره هغه جفا او خیانت ته نیږدې دی تر دې چې وفادارۍ او پاکوالي ته نږدې وي، او امام مالک رحمه اللّٰه دغه عمل او دې ته ورته نور عملونه غندلي او د هغه څخه یې انکار یې کړی دی، او ویلي یې دي: «د دې امت وروستۍ برخه نه اصلاح کېږي مگر په هغه څه چې لومړنۍ برخه یې پرې اصلاح شوې وه».

او دا معلومه خبره ده چې د دې امت د لومړني خلکو اصلاح د پیغمبر صلی اللّٰه علیه وسلم او د هغه د راشدینو خلیفه گانو، او د هغه د اصحابو او د هغوی د پیروانو د لارې تعقیب کول وو، او د دې امت وروستي خلک به هغه وخت اصلاح شي چې هماغه لاره تعقیب او پر منهج یې عمل وکړي.

اللّٰه تعالی دې مسلمانانو ته په دنیا او آخرت کې د هغه څه توفیق ورکړي چې په هغې کې د هغوی ژغورنه، خوښي او عزت وي، هغه سخي او کریم ذات دی.

# پاملرنه

## د پيغمبر عليه الصلاة و السلام د قبر د زيارت کولو حکم

د رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم د قبر زيارت کول د حج لپاره واجب يا شرط نه دى، لکه څنگه چې ځيني عام خلک او هغوى ته ورته خلک فکر کوي، بلکې دا د هر هغه چا لپاره مستحب ده چې د نبوي جومات زيارت کوي او يا جومات ته نږدې وي.

خو څوک چې له مديني څخه لرې وي، هغه ته د قبر د زيارت په نيت سفر کول لازم نه ده، خو د هغه لپاره د مسجد نبوي د زيارت په نيت سفر کول سنت دي، نو کله چې هغه هلته ورسېږي، د قبر شريف او د صاحبينو قبر زيارت دې وکړي. د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم او د صاحبينو د قبرونو زيارت د مسجد نبوي په زيارت کې شامليږي، لکه څنگه چې په صحيحينو کې ثابت شوي دي چې پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم وفرمايل: ژباړه: «له درېيو جوماتونو پرته په سفر مه ځئ چې هغه: مسجد الحرام، زما دغه جومات، او بيت المقدس دى»[1].

(١) بخاري د ابو هريرة څخه په (١١٨٩) شمېره، او مسلم په (١٣٩٧) شمېره روايت

که د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم قبر او یا د بل چا قبر ته سفر کول مشروع وی، نو هغه به امت په دې اړه لارښوونه او د فضیلت بیان به یې کړی وی؛ ځکه چې رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د خلکو لپاره تر ټولو ډېر نصیحت کوونکی، او اللّٰه تعالی باندې تر ټولو پوه او تر ټولو زیات له اللّٰه تعالی څخه وېرېدوونکی و، او ښکاره پیغام یې ورساوه، او خپل امت ته یې د هر ښه کار لارښوونه وکړه او له هر بد کار څخه یې خبرداری ورکړ، نو دا به ثنګه وي، چې هغه د درېوو جوماتونو پرته نورو ته د سفر کولو څخه منع کړې ده، او فرمایي: ژباړه: «زما د قبر (څخه د اختر میله مه جوړوئ، او خپل کورونه مو مقبرې مه ګرځوئ، او پر ما درود ووایئ، یقینا تاسو چې هر چېرې یاست ستاسو درود ماته رسېږي»[١].

او دا ویل چې د مسافر لپاره د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم د قبر زیارت کول جائز دي، دا د دې لامل کېږي چې د قبر عبادت وشي، او دا هماغه محذور عمل دی چې رسول اللّٰه صلی

---

کړی دی.

(١) ددی روایت تخریج مخکې تېر شوی دی.

الله عليه وسلم ترې وېره درلوده؛ کوم چې مبالغه او حد نه زيات توصيف کول دي، لکه څنګه چې ډېری خلک د دې عقيدې له امله چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر زيارت ته سفر کول مشروع عمل دی، په دې کې ښکېل شوي دي.

په دې باب کې روايت شوي حديثونه چې د هغو کسانو لخوا د ثبوت په توګه کارول کېږي چې وايي د رسول الله صلى الله عليه وسلم قبر ته سفر کول مشروع عمل ده، دا هغه حديثونه دي چې ضعيف سندونه لري، بلکې موضوعي او جعلي دي، لکه څنګه چې حفاظو د دې حديثونو د ضعف په اړه خبرداری ورکړی دی؛ لکه دارقطني، البيهقي، حافظ ابن حجر او داسې نور.

نو دا جواز نه لري چې د هغو صحيحو احاديثو سره مخالفت وشي چې د دريو جوماتونو پرته نورو ځايونو ته سفر کول حرام دي.

دلته، تاسو لوستونکو ته په دې برخه کې ځينې موضوعی حديثونه بيانوم؛ ترڅو هغه حديثونه وپېژنئ او هغې باندې له دوکه کېدو څخه ځان وساتئ:

**لومړی:** «څوک چې حج وکړي او زما زيارت و نه کړي هغه زما سره جفا کړې ده».

**دويم:** «څوک چې زما له مرګه وروسته زما زيارت وکړي، داسې ده لکه چې زما په ژوندون کې يې زما زيارت کړی وي».

**دريم:** «څوک چې په يوه کال کې زما او زما د پلار ابراهيم زيارت وکړي، زه هغه ته د الله له خوا د جنت ضمانت ورکوم».

**څلورم:** «څوک چې زما د قبر زيارت وکړي زما شفاعت هغه ته واجب شو».

دا حديثونه او دې ته ورته نور حديثونه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له خوا نه دي ثابت شوي.

حافظ ابن حجر په (التلخيص) کې - د ډېرو روايتونو له ذکر کولو وروسته - وويل: د دې حديث ټولې طريقې ضعيفې دي.

او حافظ العقيلى ويلي دي: په دې باب کې هېڅ شی صحيح نه دي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله تاييد کړی چې دا ټول حديثونه موضوعي او جعلي دي. او تا ته د دې په اړه د هغه پوهه، حفظ او معلومات کافي ده.

که چېرې له دې احاديثو څخه کوم شی ثابت وی، نو صحابه کرامو رضي الله عنهم به لومړني خلک وو چې په دې باندې يې عمل کړی وی، او امت ته به يې بيان کړی وای او دې ته به يې

دعوت ورکړی وی؛ ځکه چې هغوی د پیغمبرانو وروسته غوره خلک وو، او د اللّٰه تعالی په حدودو باندې او هغه څه چې اللّٰه تعالی د خپلو بندګانو لپاره وضع کړي دي ډېره پوهه یې درلودله، او هغوی د اللّٰه تعالی او د هغه مخلوق ته ډېر نصیحت کوونکي وو، نو کله چې له هغوی څخه په دې اړه هېڅ شی نه دي بیان شوي، دا په دې دلالت کوي چې دا غیر مشروع عمل ده.

که چېرې له دې څخه کوم شی صحیح شي، نو دا به په شرعي زیارت باندې حمل وي چې په هغه کې یوازې د قبر لپاره سفر کول نشته؛ ترڅو د احادیثو ترمنځ جمع راشي. او اللّٰه سبحانه وتعالی تر ټولو ښه پوه دی.

# فصل

## د مسجد قبا او البقيع د زيارت مستحب والی

د مدينې د زيارت كوونكو لپاره مستحب ده چې د قبا جومات زيارت او هلته لمونځ وكړي؛ ځكه چې په صحيحينو كې د ابن عمر رضى اللّٰه عنهما څخه روايت دی چې وايي: **ژباړه:** «پيغمبر صلى اللّٰه عليه وسلم به سپور او په پښو مسجد قبا ته تللو او هلته به يي دوه ركعته لمونځ كاوه»[1]، او له سهل بن حنيف رضي اللّٰه عنه څخه روايت دی چې وايي: رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم فرمايلي دي: **ژباړه:** «څوک چې په خپل كور كې طهارت وكړي او بيا مسجد قبا ته راشي او هلته لمونځ وكړي، هغه ته د عمرې برابر ثواب وركول كېږي»[2].

د هغه لپاره سنت ده چې د البقيع، او د شهيدانو د قبرونو او د حمزه رضي اللّٰه عنه د قبر زيارت وكړي؛ ځكه چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم به د هغوی زيارت كاوه او دعا به يي ورته كوله، د هغه صلى اللّٰه عليه وسلم د دې قول پر بنياد: **ژباړه:** «د قبرونو

---

(١) بخاري په شمېره (١١٩٣)، او مسلم په شمېره (١٣٩٩) روايت كړی دی.

(٢) ابن ماجه په شمېره (١٤١٢) روايت كړی دی.

زيارت وکړئ، ځکه چې هغه تاسو ته آخرت درياد وي»[1]. مسلم روايت کړی دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپلو اصحابو ته زده کړه ورکوله چې کله د قبرونو زيارت ته ځي دا دې وايي: (السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللَّه لَلاَحِقُونَ، أَسْأَلُ اللَّه لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ). ژباړه: «سلام دې وي پر تاسو اې د دې خاورې مومنانو او مسلمانانو ساکنينو، او هر کله چې الله اراده وکړي موږ به تاسو سره يوځای شو، له الله څخه د ځان او تاسو لپاره د هوساينې او عافيت غوښتنه کوو»[2]. مسلم د سليمان بن بريده، هغه د خپل پلار له حديث څخه روايت کړی دی.

ترمذي د ابن عباس رضى الله عنهما څخه روايت کوي چې هغه وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مدينې د قبرونو څخه تېر شو او خپل مخ يې هغوی ته وګرځاوه او ويې فرمايل: (السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ، يَغْفِرُ اللَّه لَنَا وَلَكُمْ، أَنْتُمْ سَلَفُنَا، وَنَحْنُ

---

(١) مسلم په شمېره (٩٧٦) روايت کړی.

(٢) مسلم په شمېره (٩٧٥) روايت کړی دی.

بِالأَثَرِ) ژباړه: «سلام دې وي پر تاسو، اې د قبرونو ساکنينو! اللّٰه تعالى دې موږ او تاسو ته بخښنه وکړي، تاسو زموږ مخکښې ياستئ او موږ ستاسو په قدمونو پسې روان يو»[١].

له دې احاديثو څخه دا معلومه شوه چې د قبرونو د زيارت څخه مقصد د آخرت يادول، د مړو سره ښه کول، د هغوی لپاره دعا کول او پر هغوی رحمت ويل دي.

اما د هغوی زيارت د دې مقصد لپاره چې د هغوی د قبرونو سره دعا وکړي او يا ورسره د عبادت لپاره کيني او يا ترې د اړتياوو د پوره کولو او يا ناروغانو ته د شفا ورکولو غوښتنه وکړي او يا د اللّٰه تعالى نه د دوی په واسطه او يا د دوی د مقام په خاطر او يا داسې نور څه وغواړي، نو دا زيارت بدعت دی چې نه اللّٰه تعالى او نه د هغه رسول روا کړی، او نه هم سلف صالحينو رضي اللّٰه عنهم کړی، بلکې دا د هغه هجر (پرېښودلو) څخه دی چې رسول اللّٰه صلى اللّٰه عليه وسلم ترې منع کړی، لکه څرنګه چې يې فرمايلي دي: ژباړه: «د قبرونو زيارت وکړئ، بد او قبيح الفاظ مه

---

(١) ترمذي په شمېره (١٠٣٥) روايت کړی دی.

استعمالوئ»[۱].

او دا ذکر شوي مسایل په دې کې سره یو ځای شوي دي چې دا ټول بدعت دي، خو درجې یې سره توپیر لري، ځینې یې بدعت دي خو شرک نه دي؛ لکه د قبرونو تر څنګ د الله تعالی څخه غوښتنه کول، او یا د الله تعالی څخه د مړي په حق او یا د هغه د مقام په لحاظ غوښتنه کول او ورته نورې غوښتنې، او ځینې یې لوی شرک دي، لکه د مړو څخه غوښتنه کول او د هغوی څخه مرسته غوښتل، او دې ته ورته نورې غوښتنې.

او مخکې په تفصیل سره د دې موضوع بیان شوی دی. نو پام وکړه او با خبره اوسه، او د خپل رب څخه د حق لورې ته د توفیق او هدایت غوښتنه وکړه، ځکه یوازې هغه سبحانه و تعالی دی چې توفیق ورکوي او هدایت ورکوونکی دی، پرته له هغه (په حقه) هېڅ معبود نشته، او پرته له هغه هېڅ رب نشته.

دا اخري څیز و چې موږ غوښتل چې وې لیکو، والحمد لله أولا وآخرا، وَصَلَّى اللّٰهُ وَسَلَّمَ عَلَى عَبْدِهِ وَرَسُوْلِهِ وَخِيرَتِهِ مِنْ

(۱) مسلم د ابن بریده چې هغه د خپل پلار څخه روایت کړی په (۹۷۷) شمېره نقل کړی دی.

خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّيْنِ.

# لیک لړ

د لیکوال سریزه..........................................................................................١
فصل: د حج او عمرې د فرضیت د ثبوت په اړه او د هغو په ادا کولو کې اقدام کول........٦
فصل: د گناهونو څخه د توبې وجوب او د ظلم څخه خلاصون...................................١١
فصل: کله چې حاجي میقات ته ورسیږي دغه کارونه دې ترسره کړي.........................١٩
فصل: مکاني میقاتونه او د هغې تحدیدول.......................................................٢٧
فصل: د هغه چا حکم چې د حج له میاشتو څخه پرته میقات ته رسېدلی وي.............٣٤
فصل: د کوچني ماشوم د حج کولو حکم، او آیا د اسلام حج لپاره بسنه کوي؟.............٣٩
فصل: احرام کې ممنوع شیان او هغه څه چې محرم لپاره مباح دي.........................٤٣
فصل: هغه څه چې مکې ته د ننوتلو پر مهال یې حاجي ترسره کوي او د هغه څه بیان چې مسجد حرام ته له ننوتلو وروسته یې ترسره کوي، لکه طواف او څرنگوالی یې..............٥٣
فصل: د ذوالحجې د اتمې ورځې د حج لپاره د احرام تړلو او منی ته د تلو حکم..........٦٥
فصل: د هغه اعمالو د افضلیت بیان چې حاجي یې د قربانۍ په ورځ ترسره کوي..........٩٥
فصل: د متمتع او قارن لپاره د دم (د څاروي ذبح کول) د وجوب په اړه...................١٠٤
فصل: حاجیانو او نورو ته د خیر په چارو کې د امر کولو د وجوب په اړه..................١٠٨
فصل: د طاعاتو د توښې اخیستلو مستحب والی.................................................١٢٠
فصل: د زیارت احکام او آداب یې................................................................١٢٢
پاملرنه: د پیغمبر علیه الصلاة والسلام د قبر د زیارت کولو حکم............................١٤١
فصل: د مسجد قبا او البقیع د زیارت مستحب والی.............................................١٤٦

حرمين

رئاسة الشؤون الدينية
بالمسجد الحرام والمسجد النبوي

# رسالة الحرمين

## د حرمين پیغام

د مسجد الحرام او مسجد نبوي زيارت کونکو لپاره لارښوونې
مواد په ژبو کې

978-603-8534-20-5